ناول: کوک#

لیکواله: مهتاب22#


ژباړونکې:خواجه زی خپروندیه اداره#

🖤________________

بِسـِمِ أآأللّهِ أآألـرِحـّمَنْ أآألـرِحـّيم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د حویلۍ په منځ کې د حوض پر څنډه کیناستم، د میکاسا کوچني ژیړ او شین توپ مې په لاس کې نیولی و او ورته ځیر وم، د پلار بې امانه چیغې مې په حویلی کې خپره شوي وه چې په پرله پسې توګه یې چیغې وهلې او بد رد یې ویل، غوږونه مې د هغه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیغو او بد ردو څخه ډک وو چې تل یې په خوله راوړل، خو د دې ټولو کلونو له تیریدو وروسته اوس هم د هغه د کنځلو سره مې عادت نه وکړې او د هغه خبرو به زما ټول روح او روان خراب کوو، کله چې چیغه یې کړل او دا جمله یې وویل چې دا د مرګ په درد لا نخورې، زړه مې غوښتل هماغه شېبه مړه شم. کوچني ژېړ توپ مې خوشې کړ، توپ د حویلۍ په دیوال ولګید او په هوا کې د څرخېدو وروسته بېرته زما لاسونو خوا ته راغلو چې بیا مې د پلار چیغه له غوږ شول چې ویل یې:

پلار- دا بدکاره جلۍ په هیڅ نه پوهیږي، دا جلۍ زما د دومره کلونو زحمت یې په اوبو لاهو کړو..
شونډې مې سره کلکې کړې او بیا مې توپ خوشې کړ. ذهن ته مې دا خبره راغله چې خپله هغه زما ټول ژوند پر اوبو لاهو کړو، هغه زه پرې نخودم چې ماشومتوب وکړم او نه یې هم ځواني او پیغلتوب ته پریخودم، پخپله رواني ناروغ و او زه یې هم کرار کرار د لیونتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر لور بیولم. د هغه د غړ په اوریدو سره زما تندي ته ګونځې راغلې.

پلار- دې ټولو کلونو کې مې په غوړ کې ورته ویل چې قوي اوسه، قوي اوسه. ومې ویل انسان اوسه، یوازې یو انسان. پای یې څه شو؟ دا چې زما په وړاندې هغه بد مرغۍ ته ووایي چې د شونډو رنګ دې څومره ښکلی دی! ای توف لعنت دی ستا په ننګ شې جلۍ، تا باید د لاس په شا خپل د خور په خوله څپېړه وهلې وای، نه دا چې ترې پوښتنه وکړې چې دا کوم کمپنې مارک دی، کوم رنګ دی او کوم نمبر دی، دا زما د کفن رنګ دی ښه شو؟
او بیا یې د زړه له تل چیغه کړه: ښه شو؟

احساس مې وکړ چې کړکۍ یې پرانستله او غړ یې را نژدې شو.
پلار- ښه شو جلۍ، ښه شو؟ پر ما بدبخته وخانده، پر ما وخانده، علی ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

تندی مې تروش شو، ټول عمر مې همدا خبرې اوریدلې وه. ټول عمر هغه همدا زړې خبرې زما په غوږونو کې تکرار کړې وه،او هیڅکله یې ونه پوهید چې څنګه یې زما روح او روان پدی اپلاتو باندې لمېنځه ویوړو، د مور ژړا مې د اعصابو تارونو نور هم سره ګډوډ کړل هغې په سلګیو وویل:موسی، موسی خان، ته و خدای دا جلۍ نوره مه زوروه، موسی خان تا خو د دی نجلۍ ټول ژوند وربرباد کړو.

پلار مې چیغه کړه: خوله دې بنده کړه ښځې، خوله دې بنده کړه، چې هر بلا زما په سر راځې ټول ستا د لاسه کېږې، دومره نالایقه او بیکاره وی چې یو زوی دې ماته راوړی نه شو، هر کال دې ماشوم وزیږوې، جلۍ و دې زیږوی جلۍ ... و دې زیږوې جلۍ ... خاوری دې په سر شه چې د هلک د راوړلو لیاقت دې لا نه درلود، تر تا بدبخت او رزیل بیا زه وم چې و مې نشو کړې خپل پدی لعنتي زړه پښه کېږدم او طلاق دې کړم او یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه پیدا کړم چې زما هیله پوره کړي، او زوی راته راوړي.

سترګې مې ټیټې کړې، پوهیدم چې د بېچاره مور خوا ته مې وار کوې، تل همداسې وو کله چې له ما څخه به نا هیلې شو نو زما مور به یې راونېول او مړې او ژوندی به یې مخ ته ورته و دره ول، او کنځل به یې کول. زړه مې د ځان او خپل بې ګناه مور لپاره خفه شو، چې د دې لیوني سړي سره بندیاني وو. زړه مې د دې لیوني سړي لپاره هم وسوځیده. چې د زوی آرمان یې په زړه درلود، کلونه کلونه کېدل چې د زوی هیله یې درلوده او له پنځه جلیو زېږولو وروسته یې د زوی هیله هیره کړه. هیڅکله یې زما مور ته طلاق ورنکړ، د هغه پر وینا زما په مور مئین وو! خو زه هیڅکله ونه پوهیدم چې دا نو څنګه مینه ده چې له توهین او سپکاوي څخه ډکه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه مینه یې زما سره؟ تل وایې ته راباندې د دی څلور لورګانو څخه زیاته ګرانه یې! خو زه ونه پوهیدم کله چې درباندې ګرانه یم بیا ولې دومره ډېر تکلیف راکوي؟ ولې له کلونو کلونو راهیسې مې ځوروي؟ او بیا ځان داسې ناګاره اچوي لکه چې هېڅ غلط کار چې کړې نه وی؟؟

د پلار د سلګیو او درد څخه ډکه د زړا غږ مې چې واورېده زړه مې په درد راغلو، تل همداسې و، لومړی به یې ما ته کنځلې کولې او بیا به یې مور ته چیغې وهلې او تر هغه وروسته به چې ښه یې چیغې ووهلې، پای کې به یې خپله ژړل.

د هغه د ژړا غږ په حویلی کې خپور شو چې په ژړا سره یې ویل: خدایه، خدایه، ما یو زوی غوښت، دا ښځه ونه توانیدل چې ما ته یو زوی راکړي، خدایه ولې زما نسل ادامه پیدا نکړل؟ خدایه دا پنځه انجوني به دي یو ځل راڅخه اخیستي وایې او د دوی په بدله کې به دې یو زوی راکړې وایې، قیامت خو نه راتلو؟ ها؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیامت خو نه راتلو که ما ته دی یو زوی راکړي وایې؟؟ هاا؟ څه کېدل؟ ستا د خدای څخه څه کمېدل که ما ته دی یو زوي راکړې وایې؟

شونډي مې وچېچل او بیا مې توپ د دیوال خوا ته خوشې کړو، زما ښکلې ژیړ او آسماني رنګ توپ چې کلونه کېدل زما د ښه او بدو ورځو همراز او همدرد ګرځېدلې وو، ژوره ساه مې واخیستل د پلار د ژړا غږ مې اوس هم غوږونو ته راتلو..
پلار- خدایه ما دومره کلونه و دي جنۍ ته ووېل چې کلک اوسیږه، انسانه اوسیږه، باید خپل د کورنۍ شاته لکه غر پشان اوسیږې، دېرش کاله مې ورته همدا خبری وویل خو اخیره کې څه وشول؟ خپل خور ته وایې د لب شیرین رنګ دی څه رقم دی؟ خدایه دا درد و چاته ووایم؟ تر کومه چې مې یاد دی زه تل همداسې آرمان په زړه پاتې یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مې لاندې ښکته شو او خپل د پښو لاندې کاشیانو ته پر کتو شوم، خو زما پخواني ترینه خاطره چې یاد ته راځي د دربمې خور مهدیه پېداښت وو! یاد ته مې راغلو هغه په همدې کور کې وزېږېدله، زهرا عمه راغلې و د مور مرستي ته ترڅو ماشوم نړۍ ته راوړي زه مهناز، او منصوره انګړ کې دننه د حوض په همدې څنډه باندې ناستي وو. مهناز زموږ څخه مشره وه هغې باید ما او منصورې ته دلداری راکړې وایې خو د مور د درد څخه په ډکو چغو د هغې رنګ پرېدلې وو، هغه وخت زما عمر د څلور کلونو وو خو په همغه عمر کې مې هم د هغوې وېره محسوس کولې شوه، لاسونه مې د هغوې خواته وغځول او هغه دواړه مې په غېږه کې ونېول..

نظر مې په پلار باندې ولګېد په ورختاې او بې تابې باندې، د انګړ شاوخوا قدم اخیست او سیګریټ یې دود کوو، کله ناکله هم د هغه کوټې د کړکې خواته نږدې تلو چې مور مې پکې وه او په اندېښنی باندې به یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهرا عمه څخه پوښتنه کول" څنګه شو؟ ماشوم نرۍ ته راغلو؟ "

دومره یې دا پوښتنه وکړل چې اخرى ځل زهرا عمه ورباندې په غوسه شوه، او ورته ویې ویل چې دومره دلته مه راځه.
او پلار مې هم په غوسه باندې خپل سګریټ د حویلې یوى خوا ته ختا کړو لاس یې خپل په ویښتیانو کې تېر کړو او د حویلې بل خوا پر قدم وهلو شو. حتا نیم نظر یې لا زموږ وېرېدلې انجونو خوا ته ونکړل، څو دقیقې وروسته د مور د زړه د تل چیغه پورته شوه او دهغه سره سم د ماشوم د ژړا غږ هم پورته شو..

پلار مې په تلوار ځان د کړکې خوا ته ورسه وو، ما د منصورى او مهناز لاسونه کلک ونیول او د حوض د څنډې څخه پاڅېدم، پلار مې چیغه کړه: زهرا راشه... راشه څه وشو؟ زهرا؟
څو شېبې وروسته زهرا عمه په سترې څهره د کړکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا ته راغله، پلار مې په لړزېدلې غږ وپوښتل: ماشوم څه دی؟ هلک دی زهرا؟ فخری( زما د مور نوم) زوی راوړی؟

زهرا عمه یوه دروغجن مسکا پر شونډو راوړل او کرار یې وویل: هلک او جنۍ فرق نه لري، ورور.
پلار مې چیغه کړه: یواځې دا وایه چې هلک دی که نه؟ هلک دی؟
زهرا عمه خپلې سترګې له هغه څخه واړولې او وویل: ج .... جنۍ ده موسی خان.
زما ویرېدلې نظر پر پلار ټینګ شو، چې لاس یې د خپلو ویښتو منځ ته کړ، په دوه زنګونو د حوېلۍ په منځ کې کښېناست. عمه زهرا په اندېښنې سره وویل: موسی خان ورور څه وشول؟

پلار دواړه لاسونه په حوېلۍ کې پر کاشې کېښودل او په ژړا یې پیل وکړ.
د پلار د چغو په غږ د پخوانې خاطراتو څخه راووتم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار- سل ځله مې ورته ویلې چې زه کېدی شي دوه ورځې وروسته ونه اوسیږم مړ شم،سل ځله مې ورته ویلې کېدی شي زه ژوندی پاتې نشم، ته باید دومره قوي شې چې دا څلور خورګانې دی وساتې سره راټول یې کړې، د دې ایله سرې سره کورنۍ نه شي پرمخ تللی. سل ځله مې ورته ویلې خپل د کورنۍ او خورګانو ساتونکی اوسېږه هغوی د بدی لاری وساته ...

ما د مور زوږ وهلې غږ واورېد، چې ویې ویل: موسی، موسی خان په خدای قسم لیوني شوی یې دې نجلۍ سره ته څه کار لرې؟ د هغې ژوند دې برباد کړ. دا دېرش کاله کېږي چې ورته لګیا یې او وایې چې زه سبا مړ کېږم! دا نجلۍ دې په رواني مرضۍ اخته کړه. ولې نه خوشی کوې چې ژوند وکړي؟ ولې دومره زړه ورته زخمي کوې؟ اخ مهناز خو واده شوی او خپل ژوند کوی منصوره هم کوژدن لری او سبا بل سبا واده کېږي پاتې شوه مهدیه او مژګان هغوی هم کار کوی او وظیفه لری او خپل ژوند مخې ته وړلې شي ته ولې دا جنۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کراره نه پرېږدې؟ اوس خو موږ باید د هغې ملاتړ وکړو.

پلار مې په قهر وویل: خوله دې بنده کړه فخری ګونګې شه ښځې غږ دې وا نه ورم. چې هر څه مې تېروتنه کړې ستا له لاسه می کړی، زما ټول ژوند ستا د دی پنځه لورګانو له لاسه بې ارزښته شو، هر ځل چې اورم د فلانکې زوی زېږېدلې فکر کوم یو څوک لاس ننباسې او زما زړه په لاس کې کلک نیسې، تا زما هیله پوره نکړل فخری، تا ماته یو زوی رانوړو فخری...

شونډې مې و رپېدل او غوښتل مې اوښکې توې کړم خو خپل ځان مې کنټرول کړو! ډېرش کاله کېدل چې پلار مې راته ښودلې وه چې ژړا کول د کمزورو خلکو کار دی او زه نه باید وژاړم، که اوښکې توی کړم نو د توف حیثیت لا نلرم، کلونه کېدل چې خپل په خبرو یې زما د انجلۍ توب نړۍ ورانه کړې وه، خو زه یې د انجلۍ اوسېدو څخه نه وم زړه تور کړې! زه لدې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنۍ وم خوشحاله وم! ما خوښېدل چې ویښتیان مې زیات کړم، خپل پر شونډو سور لب شیرن ووهم،

خپل پر نوکانو رنګ ناخون ووهم خپل نوکان اوږده کړم د نور انجونو پشان، خو هغه د دی ټول شیانو آرمان زما په زړه کېخودو، تل یې وګواښه ولم او بیابه یې کړم، ویې وهلم او کنځل یې راته وکړل زما د آرمانونه ته یې فاحشه توب ویل زما ښه جامې اغوستل او خپل ځان جوړلو ته یې په بده سترګه کتل، ویل یې که ته دا کارونه وکړې نو که سبا ورځ زه مړ شوم ته خپل د کورنۍ ساتنه نشې کولې د نر پشان نشی کولې خپل خویندې وساتې..

تل مې په زړه باندې د مهناز د سور لب شیرن آرمان پاتې شو، د منصوری د ګلابې رنګ ناخون آرمان پاتې شو، او حتا د مهدیه بې پروا خندل مې هم په زړه آرمان پاتې شو، دیرش کاله کېږې چې وایې زه سبا مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږم او ته باید د دوی ساتنه وکړل خو دی مړ نشو خو زه یې مرګ ته ورسه ولم.

لاس مې خپل پر مخ تېر کړو د پلار چغې مې کراری شوی وه اوس د چغو لځایه د هغه د ژړا غږ مې اورېدو، او د هغه سره سم زما د بیچاره مور د سلګو غږ! توپه مې لاس کې راواخیست او په حسرت مند انداز مې خپل د لاس کوچنې نوکانو ته وکتل! پلار مې د هرې خوا فکر یې کړې وو، زه یې په والیبال کې داخل کړې وم ترڅو نوکان مې تل منظم کوچنې کړم او پرېنږدم چې

اوږده شې! ځکه په اوږدو نوکانو باندې لوبه نه کېږې، د څو شېبو لپاره مې د هغه څخه د کرکې احساس وکړو هغه زما د ژوند څخه دوزخ جوړ کړې وو، خو بیا مې فکر و دې خبری ته لاړو چې ما د هغه په پټ تل کوښښ کو خپل آرمانونه پوره کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپل په همدې کوچنۍ نوکانو باندې خپل په يواځېتوب کې څو څو ځلې د منصورۍ ګلابې رنګ ناخون وهلې وو، حتا د مهناز لب شيرن مې هم وهلې وو خو دا کارونه ما په پټ کول! حتا خپل د خويندو څخه مې لا په پټ کول خو يوځل مژګان لېدلې وم او هېڅ يې راته ونه ويل او بله ورځ يې ماته دوه دانې ښايسته رنګ ناخون اخيستې وه او په پټه يې زما د ځاې سره کېخودلې وه! د ټولو څخه زيات مژګان زه درک کولم او زما په فکر کې وه. خو ما د هغې راوړې دواړه رنګ ناخون لرې ختا کړې وو! ځکه چې پلار مې ويلې وه زه نبايد د انجونو پشان رفتار وکړم! او که څه هم بېحد زړه مې هغه دواړه رنګ ناخون وړې وه خو بيا مې هم لرې ختا کړو ترڅو د مژګان او نور خويندو مخکې کمزورې ښکاره نشم ...

— اووو بيا لکه چې ميړې درباندې غاښ لګولې...؟ د عماد د غړ په آورېدو جست لځايه مې خيز کړل؟ داسې لکه چې برق نيولې وسم، په عصبی نظر مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مردانه څهری ته وکتل، چې یو لاس یې خپل په ملا تکیه کړې وو او په تحقیر او پوسخند یې زما خوا ته راکتل د ده څخه مې هم کرکه درلود...

عماد چې د بانو او ښاغلي کریم زوی وو، د څو کلونو راهیسې زموږ کور کې په هغه دوه اضافه کوټو کې چې زموږ کور ته مخامخ وه په کرایه اوسېدل، دوی هغه وخت څخه چې زه د اوه کلونو وم دلته راغلې وه، او کرار کرار د وخت په تېرېدو د ښاغلې کریم په خبره دوی دلته نمک ګیر شول!( مطلب یو دبل سره رفت او آمد یې پیدا کړو او یو دبل احسان مند شول) او همدلته پاتې شول.

مېرمن بانو زما و مور ته لکه خور پشان شول او ښاغلي کریم هم زما د پلار د دومره بد اخلاقو با وجود ورسره ښه رفتار کوو. دوي دوه زامن درلودل، یو یې عماد و، چې له ما څخه څلور کاله کشر و او بل یې علي و، چې عمر یې ۲۷ او ۲۸ کال و، عماد زما د ورہ خور

(c) ketabton.com: The Digital Library

مژګان همزولي وو.له ماشومتوب نه ما د عماد څخه کرکه درلوده. یعنې زما پلار ماته دا ښوولې وه چې له هغه څخه کرکه وکړم.ما تل هغه ته له غوسې او نفرت څخه په ډک نظر کتل او هغه هم زما څخه کرکه درلود! دومره کرکه چې حد یې نه درلود موږ دواړو یو بل په زوره یو کور کې زغمل.

په زړورتیا مې د هغه سترګو ته وکتل، چې هغه په پوسخند وویل: بیا دی هم ونه ژړل؟ آخ آخ آخ، ته څومره بدبخته یې، دا ځل دې غوښتل چې د کومې خور لب شیرن دې ووهي چې یزید پلار دی ولېدلې ها؟

پوهیدم چې هغه زما د پلار څخه ښه نه راتله. نه دا چې د هغه زړه زما لپاره سوځیدلې وی!، نه اصلاً داسې نه وه.زما پلار د هغه ماشومتوب هم زما د ماشومتوب پشان خراب کړی و. په حقیقت کې زما د پلار په لیونتوب باندي یواځې زه نه وم برباد شوی بلکې عماد هم زما سره برباد شوی وو چې اوس یې پایله د کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوسه او کرکه وه چې زموږ د دوارو له زړونو څخه نه
وتل.پرته له دې چې سترګې مې له هغه څخه لرې کړم،
خپل شونډو لاندې مې وویل: لاږ شه خپل کار پسي
دي.
بیا یې پوسخند وکړ او په خندا یې وویل: که لاړ نشم
څه کار کوی؟ حمله اچوی زما پر مخ پیشو؟

اعصاب مې خراب شول جنګ ته تیاره وم خو عماد نه
پوهېدو پدی خبرو چې بد وخت کې زما و مخ ته
راغلې او خبره یو پر دوه کوی، یا هم شاید پوهېده او
له قصد راغلې وو چې نور هم زما عصاب ګډوډ کړي،
ځواب مې ورنکړو او په غوسه باندی خپل توپ ته په
کتو شوم، چی بیایې غږ پورته شو او ویې ویل: و دې
نه ویل چې که لاړنشم څه کوی؟
ځواب مې ورنکړو چې په غوسه یې وویل: فکر دې
کړي چې اوس هم پخوا وخت دې؟ فکر دی کړی اوس
هم ته اته کلنه یې او زه څلور کلن؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې شونډې مې سره نږدې کړلې او بیا مې خپل توپ ته وکتل، او ذهن مې کلونه شاته ولاړ هغه وخت چې اته کلنه وم، او د خپل پلار مخې ته ولاړه وم او ټول بدن مې لړزېدی، غوښتل مې چې د مهناز او منصورې سره لوبه وکړم. دوی هره یوه د رسۍ یو سر په لاس کې نیولی و او هغه یې تاووه، مهدیه له رسۍ څخه تېرېدله. د خپلو خویندو غږونه مې اورېدل چې سندره یې ویله: "شمع، ګل، پروانه..."

ما لاسونه سره یوځای کړل او په ویره مې وویل: بابا، زه هم ورشم د هغوی سره لوبه وکړم؟
پلار مې سترګې غټې کړې او په ډارونکي غږ یې وویل: پکار نه ده. ته باید قوي شې، باید زده کړې چې د خپلو خویندو دفاع وکړې. لاړ شه عماد ووهه.
هغه د حوېلۍ بلې خواته عماد ته اشاره وکړه، چې د شګو سره بوخت و. پلار مې وویل: لاړ شه، باید زده کړې چې له ځان څخه دفاع وکړې.
ما په ژړانده غږ وویل: بابا، زه نه غوارم هغه ووهم. زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارم د رسې لوبه وکړم.
د خپلو خویندو خندا مې واورېده، چې له زړه یې سندره ویله: شمع، ګل، پروانه...

پلار مې زما پر اوږه لاس کېښود او عماد خوا ته یې ټیل وهلم او ویې ویل: لاړ شه ورسره جګړه وکړه، زده کړه چې د هلکانو مخې ته ودرېږې، سبا ته همدوی به ستا د خویندو لپاره ستونزې جوړوي، لاړ شه ویې واهه، بیا دی پرېږدم چې د خپلو خویندو سره لوبې وکړې، شابه ورځه.

ما سر پورته کړ او بیا مې عاجزی سره ورته وویل: بابا..
پلار مې په قهر شو او ویې ویل: بابا او مرګ بابا او درد غوارې په کمربند سره دې ووهم؟ ها؟ لاړ شه! عماد وواهه..
او بیا یې زه د عماد خوا ته ټیل وهلم، زه د رپېدونکو پښو سره عماد خوا ته ور روانه شوم. هغه د باغچې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګ ناست و او د شګو سره یې لوبه کوله. په ویره مې شا ته وکتل او پلار مې وېده هغه خپل سترګې غټې کړې،ما خپله پرېکړه وکړه، لاس مې کلک کړو او د عماد خواته ورغلم. عماد مې ولید، هغه زما په لیدو موسکي شو او ویې ویل: راځه، لوبه وکړو.

ما خپل مخ تریو کړو او ناڅاپه مې هغه په غوږ باندې په څپېړه وواهه..
د عماد پر غږ باندې بېرته اوس وخت  ته راغلم. هغه په قهر وویل: زړه مې غواړي دومره دي په لغتو او بوکسونو وواهم ترڅو مړه شې، مرداری جنۍ، همدا دی حق دی چې پلار دی د سهار څخه تر ماښام په ژوند کی غ ....ل وکړي.
ور ومې کتل چې هغه په لوړ غږ وویل: هااا څه شې دی؟ بد دی راغلل؟ آوری باباجان دې عررر وهې ژاړي؟ حق یې دی تا او هغه دواړو په شریک زما ماشومتوب راخراب کړو، سومره بې دلیل او بی ګناه مې ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلاسونو ښځه وهل وخوړل، خو پروا نکوی غټان چې شو تا زما له لاسونو ښځه وهل وخوړل!

فکر دی کړی وو څکه چې جنۍ یې دربانديې لاس نه پورته کوم؟ تازه اصلی غچ اخیستل پاتې، د پلار زړه دی سوځه وم داسی کار کوم چې زاره یې وچوی! ولې ورته نه وایې چې ما ګواښه ولې یې؟؟
ما د کرکي ښځه غاښونه سره ولګول شاید عماد رښتیا ویلي هغه بی ګناه کلونه کېدل چې زما د پلار د رواني مرض له لاسه زما د بوکس بوجۍ جوړ شوی وو.
هغه وخت ماشوم وو او زور یې نه درلود هغه وختو کې سومره چې توان مې درلود وهلې مې وو ترڅو پلار اجازه راکړې د خویندو سره مې لوبې وکړم ترڅو لاړشم خالي جانې وکړم د خوېندو سره مې، خو هغه تل ماشوم نه پاتې کېدې څلور کلن پاتې نشو اته کلن پاتې نشو لس کلن پاتې نشو، کله چې د څوارلسو کالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو کله چې قد او قواره يې زما دوه چنده شوه نو د لومړي ځل لپاره يې ووهلم!

داسې يې ووهلم چې تر څلور ورځو د پاڅېدو نه وم، د هغه وروسته پلار مې زه واليبال ته واچولم ترڅو قد مې لوړ شي، خو ما تنيس لوبه خوښېدل خو هغه د تل پشان زما دا آرمان هم د خاور سره خاورى کړو..

عماد- پلار او لور دواړه ليونيان ياست که د مور او پلار لياظ مې نه وايې د دواړو سرونه مې همدلته د حوض څنګ کې پرى کول.
بيا يې خپل د خولې نارې زما د پښو سره توف کړل او مخ يې وګرځه وو او روان شو، خو ما خپل اختيار له لاسه ورکړى وه، اوس زما نمبر وو چې سرکشى وکړم لځايه پاسېدم توپ مې هوا ته پورته کړو او داسې چې د واليبا شات وهم په بوره زور مې توب د عماد د دوه اوږو په مېنځ کې وويشت! عماد څو شېبې د بوت پشان خپل په ځاى کې ولاړ پاتې وو، پوهېدم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سومره درد یې کړې هغه وار په غرور او پسخند مې ورته کتل، کله چې مخ یې را تاو کړو نو زړه مې د وېرې څخه و درېدې! سترګې د وینو پشان تکې سرې شوی وه کرک او نفرت له ورایه ورڅخه ښکارېدل، ناڅاپه یې قدمونه تیز کړل او زما خوا ته یې رامنډه کړل...

ځان ته مې حرکت ورکړو او غوښتل مې په چیغو باندې د کور خواته وتښتم! خو یاد ته مې راغله دا رقم کارونه زما تر حده ندې، زه چې کلونه کېږې د دی کارونو په کولو سپکه شوی او بیاب شوی یم، چیغې وهل او تښتېدل مناسب نه وه، اوس باید کلک او قوی د عماد و مخ ته درېدلې وایې، وېرېدلې نظر مې د هغه مردانه جسم باندې ګنډلې وو. اوه اته سانت زما څخه جګ وو په یو متر اتیا سانتې قد او هغه جسم او قوی بدن باندې امکان یې نه درلود چې مقابله یې وکولې شم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید تښتېدلې وایې، خو غرور مې د تښتېدلو اجازه نه راکول، یاد ته مې راغله د شپږو کالو وم یوه ورځ پلار راځخه غوسه شو نو زه د هغه له لاسه د پخلنځي خوا ته وتښتېدلم او هلته مې پناه واخیسته، خو پلار مې راپسې راغلو او زما لرزانه اوږي ونیول او دومره په کلکه یې وښوره ولم چې فکر مې کاوو مغز مې د پوزی د سوریو څخه راوځې، هغه چغې وهلې وه هغه ورځ یې راته ویلې وه قوی خلک نه تښتي، تښته د بیغرت او کمزورو خلکو کار دی...

په خپل ځان راغلم عماد زما په یو ګام کې مخامخ راته ولاړ وو، د زیات غوسي څخه یې د پوزی سوریان خلاصیدل او بند کېدل، د کرکې او نفرت څخه په ډک غږ یې وویل: بیا ولاړې خیالې نرۍ ته ؟ فکر دی کړې همغه اته کلنه جنۍ یې او زه هم همغه څلور کلن ماشوم یم؟ دا وخت هغه وخت ندی ...
د دی خبری سره یم یې ناڅاپه لاس را وغځوه او زما څنګله یې ونېول، او تاوو یې کړه داسې چې د زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد څخه یې ساه مې نشوه اخیستې څو ځله مې خوله خلاصه کړه چې د زیات درد څخه چغه کړم خو بیرته خپل د غاښونو پر کلک کولو مې خوله بنده کړه،

پلار مې په کراتو راته ویلې وه څوک چې چغې وهی هغه انسان ندی، خو زه انسانه وم، نه مې غوښتل غرور مې مات کړم، ذهن او فکر مې لاړو د مژګان خوا ته تل په بیغمه زړه چغې وهې او ژاړې، پلار تل هغې ته بد رد ویل او ویل خوله دی بنده کړه او عررر عررر مه کوه، زه هم جنۍ وم د مژګان پشان ما هم غوښتل وژاړم، ساه اخیستل مې بند شول هره شیبه مې احساس کوو د لاس هډوکې مې مات کېږې، عماد زما لاس وښوراوه، داسې چې د درد څخه د پښو په نوکانو و درېدم او په پرېدلې رنګ مې ورته وکتل چې هغه په کرار کرار وویل: و ژ ا ړ ه ... وژاړه خوشې کوم دی.

شونډې مې و ریږدل خپله مې هم زړه غوښت چې وژاړم، مګر انسان نه ژاړی؟ اصلا دا زما پلار مګه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړل؟ همدا پلار چې ویل یې انسان نه باید وژاړي، هغه خپل زموږ د زيږون په ورځ ژړلې وه، همدا اوس يې لا ژړل تر اوسه يې د سلګو او ژړا غږ په کور کې تر غوږ کېدو، خو د عماد په مخ کې ژړل ناممکن وو. نه مې غوښتل چې اوښکې مې ووینې. بیا یې زما لاس وخوځاوه، او د درد له شدت مې له حواسو وتلې شوم. چې هغه خپل مخ زما خوا ته رانږدې کړو او ویې ویل: و ژاړه د پیشو بچې وژاړه کنه داسې کار به درسره وکړم چې دوه اونۍ توپ په لاس کې راوانخیستلی شې.

ما په هغه غږ چې د زیات درد څخه بند بند کېدو ومې ویل: ته به په خوب کې هم زما ژړا ونه وینې.

عماد خپل مخ شا ته کړ او د پوسخند په توګه یې را وکتل. زه پوهېدم چې خامخا به داسې څه کوي چې دوه اونۍ په کور کېنم، ښه پوهېدم په اخلاقو یې. په زړورتیا مې لا هم د هغه سترګو ته کتل. هغه حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ، او ما ځان کلک ونیو، ناڅاپه د بانو غږ د انګړ په منځ کې واورېدل شو.

بانو- عماد! خاوری دی زما په سر شي، دا ته څه کوې؟ عماد؟

عماد خپلې سترګې پټې کړل او بیایې ورو وویل: ډېر شانس او طالع لری...

د دې خبری سره سم یې زما لاس د څنګلې څخه پرېښود او ماته یې شا واړوله. زما لاس بې حسه شوی و، داسې احساس مې کاوه لکه له ساعتونو راهیسې چې دروند شی ترې ځړېدلی وي. وخت به رارسېده چې حساب کتاب ورسره وکړم، داسې ګومان یې کړی و چې له یاده به مې وځي؟ یوازې خدای پوهېده چې زه څومره له هغه څخه کرکه لرم. د بانو د څپلۍ ورو ورو غږ مې واورېد چې عماد ته یې ورمنډه کړه او په لاس یې لاس کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانو- څه دې کول؟ سل ځله مې درته ويلي دي چې د ماشومتوب جګړې ختمې شوې؟ درته مې ويلي دي يا نه؟

عماد خپله اوږه شا ته کړ او په ورو يې وويل: پريږده موری، غوارم دوکان ته ولاړ شم.

بانو په زحمت هڅه وکړه خپل غږ ټيټ وساتي، او ويې ويل: ښه ولاړ شه مګر زه وايم چې مه ځه؟ زه دا وايم چې بيا ولې د خروس جنګي په څېر وربانديې ورپريوتې؟ دې انجلۍ ته لږ غمونه شته چې ته هم ورسره دا رقم کوی؟
عماد په خوله کې مسک شو او هڅه يې وکړه چې په نرمه خپل لاس د بانو له لاسه وباسي، خو بانو هغه کلک ونيو او ويې ويل: که لاس يې مات شوی وای، نو ما به په کوم مخ فخري ته کتلای شو؟ زويه، ته ولې داسې وحشي شوی يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عماد تندی تروش کړو او ویې ویل: اه موری نور مې پرېږده، غوارم لاړ شم.
د بانو غږ لوړ شو: دا دې وروستی ځل و، عماد. پوه شوې؟
عماد یې ځواب ور نه کړ، چې بانو بیا هم کلک ونیو او ویې ویل: پوه شوې که نه؟
عماد- هو، پوه شوم، اجازه ورکوی چې ولاړ شم؟
بانو په غصه ورته وکتل او بیا یې پرېښود. عماد په تیزۍ سره انګړ ته لاړ او په سترګو رپ کې له کوره ووت.

ما ځان ته جرئت ورکړ او خپل بې حسه لاس مې پورته او ښکته کړ، ښایي څو ساعته به مې نه شو کولی توپ په لاس کې ونیسم دا احمق هلک غلط حساب کړی و، پلانونه مې ورته درلودل. د بانو په غږ سره له خیالاتو راووتلم.
بانو- لاس دې درد کوي، متین جان؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې مهربانه سترګو ته مې وکتل چې تل زما په اړه اندېښمنې وې. سره له دې چې څو ځله ما او زما پلار د هغی زوی تر لیونتوب ورسولو او بېرته مو راوګرځولو. بیا هم هغۀ زما په فکر کې وه په پیل کې چې به مې چې کله زوی ورځخه پعذاب کولو او څه یې نه ویل، فکر مې کاوه چې ورته مهم نه دی! خو چې غټ شوم، پوه شوم چې دوي بله د کرایې وړ کور نه درلود او هماغه کور کې یې له ټولو ستونزو سره ژوند کاوه.ښاغلی کریم خو څو ځله له پلار سره جګړې کړې وې. څو ځله مور او بانو منځګړتوب وکړ، خو پلار خپل چلند بدل نه کړ، زه یې هم مجبورولم چې د هغه له کړنو سره جوړه شم. خو بانو تل ویل چې زه ملامته نه یم، بلکې د داسې یوه سړي قیدی یم چې د خپلې ناروغې نرۍ په زندان کې بند دی. او دا تعبیر بلکل زما د پلار د  حال وو.

بانو- متین جان، تاته وایم ښه یې لورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل مې چې ورته ځواب ورکړم او له اندېښنې يې راوايستم، چې ناڅاپه يې پر سر پړونی سم کړ. د هغې د کتلو لوری مې تعقيب کړ، او سترګې مې په خپل پلار ثابتې پاتې شوې چې په سور مخ د غوسی مور ته راوکتل، بانو په ورو سلام وکړ. پلار مې بغير د ځواب ورکولو څخه انګړ ته لاړ او په زوره يې دروازه وتړله.

.....................

کور ته دننه شوم، د مور په مخ مې سترګې ثابتې شوې چې د دېوال په کونج کې ناسته وه او اوښکې يې تويولې. غوښتل مې چې ور نژدې شم او هغې ته ډاډ ورکړم، خو نه پوهېدم چې څه وکړم. بايد هغه مې په غېږ کې نيولې وای او پر ويښتانو مې لاس ايښی وای؟ په اصل کې ډاډ ورکول څه ډول و؟

مور چې زه وليدلم، اوښکې يې پاکې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور- متین جان، مور دې قربان شي، لورې چې دا سرې دیستا ژوند اور وګرځه وو.
ورته مې وکتل او اوږه مې درد وکړ. را یاد شول چې عماد ځورولی وم. فکرونه مې شاته کړل او بیا مې د دې په اړه فکر وکړ چې څنګه باید مور ته ډاډ ورکړم؟ ایا د ډاډ ورکولو په اړه فکر کول مسخره نه وو؟
چې د مژګان غږ مې واورېد، سترګې مې وازې کړې او سر مې ورواړاوه.

مژګان- د اته ریشتره زلزلې ټکان ختم شو، د هغه وروسته لړزه هم ختمه شوه. اوس به وګورو چې څوک د دی زلزلې لاندې پاتې شوی دی؟ د چا پښې، د چا لاسونه مات شوی دی؟

د هغې موسکۍ خبرې ته مې وکتل، مژګان د پنځو خویندو تر منځ تر ټولو خوش طبعه وه. تر ټولو کشره وه او تر ټولو زیات زغم یې درلود. د کور ګډوډ حالت هم هغې سمبالاوه، په ځانګړې ډول د هغې په وینا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار د اته ریشتره زلزلې په څېر خپل کړنو سره کور ویجاړه کړ. د مهدیې خفه غږ مې واورېد چې د کوټې له شا راووت: پلار خو بیخي له حده تېرېږی، شیطان وایي ورته ووایم چې که موږ سرخي ونه لګوو نو څه وکړو؟ لونګې په سر کړو سرکونو ته ووځو؟

مژګان په ټوکو سره خپل سترګی ورته واړه ولې او ویې ویل: داسې ښکارې لکه چې دی زلزلې تاته کوم زیان ندی ندې رسه ولې، ژبه دې ډېره اوږده ده. لرې شه، وخت مو مه نیسه، زه باید ټپیانو ته ورسېږم.

او منصورې ته یې اشاره وکړه چې په پرېدلې رنګ د هغې د شا څخه راڅرګنده شوه. سترګې مې د مژګان په څېره کې تاوې شوې، او له ځانه سره مې فکر وکړ چې سترګې اړول او اشاره کول څومره ښکلې کړنه ده. وروستی ځل مې د چا سره د سترګو اړولو او اشاره کول کړی؟ اصلاً چا ته مې کله د سترګو اشاره کړی؟ ایا پلار اجازه راکوله چې سترګو اشاره و کړم؟ ویل به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې باید د مقابل لوري سترګو ته مستقیم وګورم او په سترګو یې له پښو وغورځوم.

د مهدیې غږ مې واورېد چې په چغو یې وویل: په خدای قسم په دې کور کې مې رواني مرض پیدا کړو، هره ورځ چې له خوبه پاځم، استرس راځي چې بیا به پلار په کوم کار راباندی منت کوی او جنګ کوی؟
مور مې په ډک زړه وویل: مهدیه، لوری بس کړه.
اود سترګو او وریځو په اشاره زه ورته وښودلم،خو مهدیه نوره هم جدي شوه او مخ یې سور شو او بیایې چغې کړل: یعنې دروغ وایم، مورې؟ آخه څو ځله باید د دې بې ځایه شیانو لپاره په دې کور کې جنجال وکړو؟ په رښتیا سترې یم، دا څه معنی لري چې وایي ولې مې د لپ سټیک"لب شیرین" نمبر وپوښتل؟ اوس نو پوښتل هم ګناه دی؟

مژګان منځ ته راګډه شوه.
مژګان- ګوره، زما نظر بدل شو، ګواکې ته تر هر چا ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنیو مرستو ته اړتیا لري. داسې ښکاري چې د زلزلې
په وخت کې به دې په سر باندی کومه خښته یا څه
شی لګېدلی وي. ته ډېره بې ربطه خبرې کوې.

مهدیه چیغه کړه: اه، بس کړه مژګانه، ته یوازې
مسخرې جوړول زده کړي.
حوصله مې نوره خلاصه شوه د هغې غږ بېحده لوړ
شوی و. تندی مې تروش کړو او په کلکه لهجه مې
وویل: بس یې کړه، مهدیه.
مهدیه حیرانه شوه او ماته یې وکتل: متین، خو...
– یو ځل مې درته وویل بس یې کړه، پوه شوې که
نه؟

مهدیه پټه خوله شوه او هېڅ یې ونه ویل. په تروو
تندیو له دوی تیر شوم او خپل او مژګان خونې ته لاړم.
دروازه مې بنده کړه او ورته مې ډډه ووهله. په سر کې
مې شور جوړ شو، ولې هېڅ کوم زما کړنه د بل چا په
شان نه وه؟ ولې زما پلار اجازه نه راکوله چې ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړم؟ له ما څه غوښتل؟ ماته يې څه؟ چې د زوی ارمان يې په زړه پاتې و؟ زه يې قوي روزلی وم چې څه شي؟ په نړۍ کې يې څه نيول غوښتل؟
د اوږې شاته مې بيا هم درد وکړ. سر مې وګرځاوه ا سترګې د مېز پر سر ثابتې پاتې شوې. يو لپ سټيک و چې د طلايي بوتل په سر کې ځای پر ځای شوی و.

له دروازې مې ځان لرې کړ او د مېک اپ مېز ته لاړم. د لپ سټيک يې له بوتله راوويستم. سور رنګ يې د ګلابي غټ سيوري ته ورته و. يوه وخت مې له مژګانه اورېدلي و چې د هغې نوم "کالباسي" دی. نه پوهېدم چې دا د رنګونو له تازه ړولونو څخه دی چې نوې يې د قاموس برخه ګرځېدلې يا نه. هغه مې پر شونډو تېر کړ. خپل عکس ته مې په هنداره کې وکتل. يو نری خندا مې پر شونډو خوره شوه.

بېرته مې خپل عکس ته وکتل. سترګې مې وتړلې. په زړه مې نه شوه پرېوته. يو ځل بيا مې خپل عکس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتل او دا ځل مې سترګې په کاسه کې ورچاپېرې کړې. شونډې مې سره ولړلې، خو پوه شوم چې حتی په سم بډول د شونډو سره کولو باندی هم نه پوهېږم، ژوند مې څه و؟ يو خالي، بې ارزښته ژوند.

سترګې مې په هنداري کې د غمجنی نجلۍ عکس ته ولګېدې.پر شونډې مې لاس تېر کړ.لب شيرين مې له منځه تللی و. د ورزشي بکس مې په اوږه واچول او له خونې راووتم. د راوتلو سره سم سترګې مې د مور او منصورې پر اندېښمنو څېرو ولګېدې. مور مې ماته وکتل او ويې ويل: چېرې ځې، لورې؟
کرار مې وويل: جيم ته ځم.

مور- پدی حالت باندې؟
د دهلېز خوا ته ولاړم او د بوټونو د پښو حال کې مې وويل: يعنې ستاسو په نظر که کور کې پاتې شم ښه کېږم؟
منصورې په اندېښنې وويل: خو متين جان هغ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مژګان خندونکی اواز مې واورېد: پرېږدئ چې لاړه شي هلته خوشحاله کېږي چې ورزش کوی.

د خپلو بوټونو تنې مې وتړل، مخ مې مژګان ته وګرځاوه. له هغې سره مې زیاته مینه درلوده. له ټولو ډېره ښکلې وه، او تر ټولو ټیټ قد یې درلود.کله مې هم هغې ته نه وو ویلي چې راباندې ګرانه ده! ځکه پلار مې ویلې وه احساسات باید بیان نکړم.
مژګان چې زما ځېر نظر ولېد نو سترګک یې وواهه او ویې ویل: ماښام ژر راشه، مهناز هم راځي چې خپل زړو مجردو خویندو حال او احوال معلوم کړی.
منصوری په اعتراضی توګه وویل: مژګان...
مژګان په خندا وویل: اها لیاده مې وتې وه تخو کوژدن لرې یواځې زه مهدیه او متین مجردانی یو...

او بیا په خندا شول ما یوه نرۍ موسکا وکړه، او سترګې مې له هغې راوګرځولې او مور ته مې وکتل. خوله مې خلاصه شوه چې ورتهووایم اندېښنه مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوه، خو و نه توانیدم او یوازې مې وویلې شو: خدای پامان.

او له کوره راووتم. انګړ د مینځ څخه مې خپل توب راواخیست چې عماد او د هغه احمقانه کارونه مې رایاد شول او غاښونه مې سره وچیچل همداسې خو یې نه پرېږدم صبر یو کار ورباندې وکړم چې عبرت شې ورته ...

.....................

موټر کې کښېناستم او لاس مې د هېنداری د منظم کولو لپاره وغځو، خپل و څهرې ته مې په هېنداره کې وکتل بیحد رنګ پرېدلې وم. خپل لاس مې جمپر کې ننویست او لب شیرن مې را واخیست د هغه کس احساس مې درلود چې د غلا حال کې وی او وېرېږي چې څوک یې ونه نیسې. یو نظر مې خالې او تنګ کوڅې ته وکړو او غوښتل مې لب شیرین خپل پر شونډو ووهم چې ناڅاپه علی د کوڅې د سر دیخوا راتاو شو! ورختا شوم او لاس مې ښکته کړو موټر مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانه کړو او په لړزيدلې لاسونو مې د موټر اشتيرينګ ونيو، په ځو قدمونو على رانږدی شو او په کنجکاوی سره يې د موټر دننه وکتل، کله چې زما نظر يې ولېد نو سر يې راته وښوراوه چې ما هم ورته ارنګ وواهلو او راونه شوم..

د تلو سره سم پر شونډو مې نرۍ مسکا راغله، موټر ته يې په زبر او زير وکتل چې ضايد زما سره مژګان ووينې، هغه فکر کاوو چې زه نه بوهېږم چې دی پر مژګام مئين دی؟ د شالخوا مې ورته وکتل چې په تيز قدمونو د کور خوا ته راون وو،خپل د ورور څخه قد کې يو څه ټيټ وو، يوڅه هم ږنګر وو د هغه سره مې کوم جنګ او جنجال نه درلود د هغه ټول فکر د مزژګان خوا ته وو او مژګان هم داسې بريښېدل چې على خوښېږي. نظر مې د هغه څخه واخيست او د کوټې څخه ووتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.......................

په لوړ غږ مې چیغه کړل: المیرا دا څه ډول توپ اچول دی؟ باید پر وخت او موقع باندی پاس ورکړی، ولې داسې غلط لاس او پښې شوره وی؟
په غوسه مې د هغې د مخ دری من آرایش ته وکتل،ولې زما زنانه نرۍ د هغې پشان نه وه؟ حتا ورزش کولو وخت کې لا هغې دری من آرایش کړې وو، سترګې مې د هغې څخه واخیستل او خپل ټول شاګردانو ته مې وکتل، ټولو آرایش درلود، د ټولو نری وریځې او آریش شوی مخونه او اوږده ویښتیان، لاس مې بې اختیاره خپل د ویښتیانو خوا ته ولاړ، خرمایی رنګ کوچنې ویښتیان چې د ټېکری لاندې می پټ کړې وه، په غوسه مې خپل لاس د ویښتیانو څخه لری کړو چې پوران زما یو بل زده کونکې په ساه نطولې انداز .... دننه راغله

پوران- وای، مېرمنه! ښښه غوارم، ناوخته شو راباندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نارامه نظر مې د هغې جامو ته وکتل، او بيوځل بيا
مې د بخيلی او حسادت احساس په زړه کې راوټوکېد.
هغې جګ بوټونه اغوستي وو او يو لنډ کوټ يې په تن
و. ما ته له ذهنه تېر شول چې په قد کې ۱۷۳ سانتي
متره يم او هېڅکله نه شم کولای جګ بوټونه واغوندم.
ټول بوټونه مې سپورټي وو، په رنګارنګ تيټ ډېزاين
کې. دا ناوړه ژوند مې نه غوښت، دا اوږد قد مې نه
غوښت پلار مې ژوند د دوزخ په څېر کړ؛ هغه زه
مجبور کړې وم چې واليبال وکړم. خو ما ټينس
غوښت، لکه زما د ټولګيوالو په څېر، د ښوونځي دورې
چې وروسته له دولسم تولګې څخه مې نوره ادامه
ورنه کړه، پوهنتون ته نه لاړم، نه مې غوښتل د هغو
نجونو ليدونکی اوسم چې رنګارنګ آرايشونه يې کول.

نه مې غوښتل په کوڅه او بازار کې خلک راباندی
ټوکې ووهي او راته ووايي چې دا د ښاروالۍ زينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی خپل زينې وې او اووه نسلونه يې زينه وه، کله چې زه بېچاره شکنجه کېدلم او عذاب مې ګاله، هغوی چيرې ول چې اوس زما په قد، قواری او څهری خاندی؟ ما هم نه غوښتل چې دومره لوړ قدی اوسيږی چې ونشم کړی جګ بوتونه واغوندم، هر وخت به مې په حسرت مژګان ته کتل چې لس سانتي جګ بوټونه يې اغوستل او کراره کراره به يې مزل کاوه.

ساه مې بېرون راوایسته؛ په اصل کې زما څه مشکل و؟ ۳۴ کاله مې عمر وه، ولې اوس دا ژوند دومره راته ستونزمن شوی و؟ شاګردانو ته مې وکتل او بيا را ياد شول چې د دی تازه غمجن کيدو او پريښانه کېدو علت زما د ښونکي کېدو وه، د کوم وخت څخه چې د واليبا ښونکي شوم او له هغه وخت راهيسې چې مې مختلفي نجونې او ښځې وليدلې چې څومره په خپل ښځينه نړۍ مين دي او له هغې څخه خوند اخلي، دا احساس د کموالي مې په زړه کې خپور شو او پټې عقدې مې راوچتې شوې. ما غوښتل لنډ کوټ واغوندم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دا حجاب چې تر زنګانه لاندې وي، د سپینو سپورټي بوټونو سره چې د ۴۱ اندازه لري او دا برجس سره او همدارنګه شال چې د غاړې لاندې تړلی وي. شال مې غوښت، لکه هغه چې مژګان پر سر اغوستی و،

لکه هغه چې طهماسب تازه د منصورې لپاره اخیستی و، یو ګلابی رنګ ټېکری چې منصوری ته یې د ډالۍ په بڼه ورکړی و. زما زړه هغه ډول ټېکری غوښت، پلار مې د هغه ټېکری په لېدلو ویلی وه چې دا خراب رنګ دی د کوڅه بازرای انجونو رنګ دی، او ویلې وه چې دا څه دي چې زوم یې د لور لپاره اخیستي، خو منصوره یې پروا نه کوله. هغه د طهماسب ښځه وه، پلار نور نه شو کولی له هغې سره جنجال وکړي. په اصل کې پلار هیڅکله له نور خویندو سره جنجال نه کو، د هغه جنجال یوازی زما سره وو او بس.

د پوران غږ را په خود کړم.
پوران- مېرمنې، داخل شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بې پروايي مې سر وخوځاوه. يوې شاګردې چيغه کړه: پوران، له حسام سره وې؟
پوران چې په خندا د جامو بدلولو خونه ته روانه وه، وويل: بلا! څه شوې، بخيلی دې وکړه چې زه ملګرى لرم؟

بيا خيالاتو مې سر راپورته کړ. هغې ملګرى درلود، زما په خبر نه وه. ما ته د دې فرصت نه و رسېدلی چې څوک زما په لور راشي او مينه راکړي. ۳۴ کاله مې عمر دی او هېڅا راسره مينه ونه کړه. شايد ټول مې له ځان لرې کړي وي، خبل پدی بد اخلاقو او حرکتونو او چلندونو له امله. پيغله چې وم، يو يا دوه تنه هلکان زما خوا ته راغلل، خو د هغوی د زارۍ او منت کول او ناز اخيستل مې نه خوښېدل. خپله هم مينه ناکې خبرې مې نه شوی کولی. ورو ورو هغوی ستړي شول او لاړل او زه يې په مطلق يوازيتوب کې پرېښودلم.
هغه هلکانو صبر نه درلود چې راته ښودنه وکړي، چې دا بې ځايه چلند مې پرېږدم؛ يوازې به يې ويل چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدر جدي او رسمي مه اوسه. نرم اوسه، خو زه نه پوهېدم چې نرمي څه شی ده.

نه پوهېدم چې څنګه نرم اوسم. که لږ يې زه زغملی وای، شايد نرمي مې زده کړې وای. زړه مې خفه شو؛ يوازيتوب اوس زما د ټول ژوند ملګری وو د الميرا په غږ مې ځان را ټول کړ.
اميرا- مېرمنې، ايا دا ټول لاس اخيستل صحيح دی؟

......................

کلې مې په قلف کې تاو کړ او انګړ ته داخل شوم.تپه تياره وه، پوهېدم چې د محلې برق پرې شوی دی. د کور په لور مې په کراره حرکت پيل کړ. د کور له داخله مې د خبرو شور واورېده، د مژګان خندا له ټولو څخه لوړ وه چې په پرله پسې ډول يې چيغې وهلې:
مژګان-،منصوره موږک، مهديه موږک!
د منصورې له زړه راغلې چيغه مې واورېده: وای زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېرېږم، خدايه زما خوا ته رانشي، ته و خدای زما خوا ته رانه شي.

د خندا او شور منځ کې مې د مور غږ واورېد چې ويل يې: انجونو، څه خبره ده؟ دا مژګان ستاسو سره ټوکې کوی مورک نشته، لا د دی پر اخلاقو نه ياست پوهه شږی!

مهديه چيغه کړه: مړه شې مژګانه! بس چې برق راشي، زه به ستاسره ګورم.
مژګان په خندا وويل: وای موږږږږږږږږک ...

بوټونو پښی راته پعذاب کول وکړېدم چې د بوټونو تڼې ختا کړم.چې د يو غږ په اورېدو مې مخ واړاوه، په توره تياره کې مې سترګې د يو غټ بدن پر شتون کې پاتې شوې. هغه د کور له خوا، چې د انګړ مخامخ وو دی خوا را ووت او د ګدام په لور لاړ. ما وپېژانده، دا عماد و. هغه ما ونه ليد، خو زه حتی په تپه تياره کې هم د هغه شتون احساس کولی شوم. چې هغه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولید، نو اوره مې په درد شول، او هغه وخت مې را په یاد شو چې نن مې ښه لوبه ونه کړه. اوس د بدل اخیستلو وخت و.

ما خپله بکس په باغچه کې کېښود او ورو ورو د پښو په ګوتو د هغه په لور لاړم.

د مژګان خندا مې واورېده: په وېښتو کې دې موږک دی! موږکک پرواز کوي!"

مهدیه چیغې کړې: مژګان! خدای دې تا ګونګې کړي!

عماد د ګدام دروازې د لاستې پسې ګرځېدي، زه چې څو قدمۍ ته ور ورسېدم، هغه زما وجود ته پام نه و. ما خپله لاس پورته کړ، په زړه کې مې قهر وه، او په ټول زور مې په خپل څنګلې باندې د هغه د ملا منځ وواهه. د هغه له ستونې څخه یو ناوره غږ راووت، او پر دوه زنګونو باندی د ګدام دروازې په مخه کې ټیټ شول. ژر مې خپل لاس د هغه په غاړه واچوه، او خپل سر مې د هغه غوږ ته نږدې کړ: څنګه یې وحشی؟

عماد داسې ښکاره شوه چې تازه پوه شو چې څه روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. یوه لاس یې د ملا په لور لاړ، نفس یې سخته اخیسته، او په قهر سره یې وویل: مړه کوم دې خپل پر لاسونو دی مغزی در مات کوم.
ما و خندل او په پوسخند مې وویل: اوس خو ستا ملا ماته شوې ده.

عماد: بې شرفې نجلۍ د دی کار بدل درنه اخلم..
– دومره دی نه حساب کوم بدبخت.
عماد- په بیغرتي کې دې ووهلم.
– د بیغرتانو سره باید بیغرتی وشی.
عماد د لړ ښکته کېدو سره هڅه وکړه چې ځان راخلاص کړي، خو ما د هغه په غاړه خپل لاسونه لا سخت کړل او ومې ویل: و دی نه ویل چې خوند کوی او کنه؟
د علي غږ مې د کور له منځ څخه واورېد: عماد! د تیلو څراغ راوړې؟ یا له سر جوړ کوی چې دومره وخت دی تېر کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د عماد غوږ ته په ورو وویل: که چا ته څه ووایې نو ډارن یې. دا خبره یوازې زموږ دواړو تر منځ پاتې کېږي.
ما خپل لاس د هغه له غاړې لرې کړ، او په خپل لاس مې د هغه د سر شاته زور ورکړ، چې په ځمکه ولوېد.
عماد داسې حال کې چې خپل ملا نېولې وه وویل: زه خپله د خپل حق څخه دفاع کولې شم مشران نه راوړم!
ما په قهر وویل: زه هم ستا په شان یم. نه ډارېږم.
خبره یوازې زموږ تر منځ ده.
د تلو مخکې مې د هغه غږ واورېده چې په کرکې سره یې وویل: یو پر یو شو متین زه د دی بدل درنه اخلم...

د مهناز ماشومان کور پر سر راخیستېو، او د خندا او شور له امله یې کور ډک و. زه بیا د ځان لپاره د افسوس احساس مې وکړ. ما فکر وکړ چې خوشبخته مهناز ده، چې واده یې کړی، مور شوې ده، او د مور کېدو خوند یې په بشپړ ډول حس کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زه؟ له هغه ورځې چې فکر مې وکړ چې مور شم، وېره مې درلود، تل مې ویل  چې زه نه شم کولی د خپل ماشوم سره خپلې احساسات شریک کړم. دا وېره مې وه چې زه به خپل ماشوم لیونی کړم، لکه څنګه چې زما پلار زه لیونی کړی وم. زه وېرېدم هسې نه خپل د پلار کارونه زه خپل په لور وکړم!

خو د سوګل او سپهر د ښایسته مخونو په لېدو احساسات مې را وپارېدل،دا چې اولاد ولرم خپل و ینې څخه دا چې نهه میاشت خپل په وجود کې وساتم او خپل د بدن شیدی او خوراک ورکړم، هغه په غیږ کې ونیسم او بوی خپل سینی ته کش کړم، دا ټول داسې وه راته لکه یو خوب او خیال چې امکان یې نه درلود لاس ته یې راوړم، بیا مې لځاین سره وویل سومره خوش قسمت وه مهناز چې واده یې وکړو اوس کور لری ځای لری، اولادونه لری، بیا مې نیم نظر د منصوری خوا ته واچو هغې هم کوژدن درلود او سبا بل سبا ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library

منحوس کور ښځه د تل لپاره تلل،د مهناز ښځه بغیر
مورې ټول تر

ډېر عمر واده ونکړو..

زه خو د 34 کالو یم منصوره د 32 کالو وه چې
طهماسب ته یې د هو ځواب ورکړو او کوژدن شول،
مهدیه د 31 کالو ده او مژګان بیا د 28 کالو ده، بیا مې
نظر په سوکل ولګېده چې پښه یې په فرش کې بنده
شول او لاندی راوغورځېدل، او سپهر ورباندې خندا
پیل کړل زړه مې ورباندې وسوځېده خپل شونډی مې
لاندې کړل او ومې ویل: ولې داسې منډې وهې؟

ما خپل وروځې سره کش کړې. نه، داسې ډاډ ورکول
سم نه و. ما خپل ستونی صاف کړو او بیا مې
وویل:راځه، دلته زما سره کښېنه.
خپل پر ځان مې غوسه راغلل زه ولې د انسان په شان
ورته نشم ویلې چې زما غېږ ته راشي؟ ما خپلې
سترګې پټې کړې، او خپلې ریږدونکې لاسونه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاص کړل. یوه شیبه مې ذهن ته راغله چې د یو ماشوم په غېږ کې نیول، هغه چې زما د غوښې او وینې برخه وي، څومره خوارېږه او خوښي بخښونکي دي. ما په ټول وجود سره هیله وکړه چې کاشکې زه مور وای.

سوګل په شرم سره زما په لور ته راغله. یوه شیبه مې سترګې وړپولې او زما نظر د پلار په غوسه ناکه سترګو کې قید شو. ناڅاپه مې زړه و لړزیده د هغه د سترګو ژبه مې پېژندله، داسې ژبه چې غوښتل یې زما ټول شته او عزت په بې رحمۍ سره په ما ور واچوي. دېره په تمه پاتی نشوم او هغه خوله خلاصه کړه.

پلار- خدای دې نه کړي چې انسان غوا وي. که غوا وي، نو سل ځل ورته یوه خبره وکړه، د غوا په شان هیڅ نه یادوي."
ناڅاپه په ټول کور کې چوپتیا خپره شوه. فضا دومره درنه شوې وه چې سوګل هم د دهلیز په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېد او حرکت یې ونه کړ. ما خپل شونډې سره ټینګ کړې. زما نظر د فرش پر ګلونو پاتې و. د پلار غږ لکه برمه د سر منځ کې را ننوت.
پلار- تاسو لیدلي چې غوا څه کوي؟ کله مو لیدلې؟
دوه اوږې مې په یخو خولو ډکې شوې. پوهېدم چې مطلب یې زه یم، په نظر کې یې زه د یوې غوا هومره هم نه پوهېدم.

پلار- تر اوسه مو لیدلي؟
سپهر په خپل ماشومانه غږ وپوښتل: غوا څه کوي؟
پلار- آفرین ماشومه، ته پدی منځ کې په یو څه وپوهیدی، راشه دلته زما څنګ ته کینه تر څو درته ووایم چې غوا څه کوي!
سپهر په وېره ورته ورغی، سوګل وښورېدله او غوښتل چې د پلار خواته ورشي، چې پلار په غوسه وویل: نه نه، یوازې سپهر دې راشي، یوازې هلک دې زما خوا ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوګل په غمجن حالت کې مهناز ته وکتل. مهناز په خجالت سره پر ځمکه کښېناستله او په پټه یې خاوند ته وکتل. سپهر د پلار په زنګانه کې ناست. پلار ورته په ځیر ځیر وکتل او په درانه اواز یې وویل: پوهېږې چې غوا څه کوي؟ که سل ځلې ورته ووایې، که یې ووهې، غږ پرې وکړه، ان چې آرامه ورته ووایې، بیا هم د غوا په څېر یوازې درته ګوري.

ناڅاپه یې غږ لوړ شو او ویې ویل: په دې کور کې هم غوا لرو، غوا چې سل ځله ورته ووایم چې دا کار مه کوه، هغه کار مه کوه، بیا هم راته ګوري لکه غوا.
سپهر وېرېدلی شو، او کرار یې وپوښتل: څوک غوا ده؟
پلار- څوک غوا ده؟ دا خاله متین دې غوا ده.

زنې مې رپېدې. په زور مې سترګې د قالینې په ګلانو کې خښې کړې وې. په نظر کې یې زه غوا وم. که غوا نه وم، نو باید سوګل مې نه وای بللې او غبږ مې ورته خلاصه نه وای کړې، دا کارونه د نرم طبیعت نښې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور باید پرېږدم چې یوازې په زنګانه مې کښېني. نور څه چې زه غوا وم، هغه غوا چې ښځینه احساساتو مې ټول وجود نیولی و او زه دې ښځینه احساساتو سره خوښ وم. د مژګان په غږ سره مې په بېړه سر پورته کړ.

مژګان- پلار، زومان دي دلته ناست دي.
پلار په قهر ورته وکتل او ویې ویل: چا تاته وویل چې خوله دې خلاصه کړې ؟ چا درته وویل ها؟ ته بېعقل خره،

مژګان خجالت شوه. د هغې په رنګ د اخیستلو سره مې زړه وخوځېد، نه مې غوښتل چې د طاها(مهناز خاوند) او طهماسب(منصوري کوژدن) په مخ کې زما د بلا مخې ته و درېږې او خواره شي. د پلار غږ نور هم لوړ شو.
پلار- تاته وایم هاا؟؟
سپهر په بېړه د پلار له زنګانه پورته شو او د مهناز لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته منډه کړه. پلار په غوسه وویل: سپین سترګی تاته وایم ولې زما په خبره کې راغلې هاااا؟؟

زړه مې نه شول چې پلار نور هم مژګان بیاب کړي.
خبرې مې پرې قطع کړې او ومې ویل: پوهېږم پلار، ته سم وایې، زه غوا یم، مژګان چوپ شه.
مژګان په غمجن ډول وویل: متین!
تندی مې ورته تروش کړو او ومې ویل: وایم، زه غوا یم. بس چوپ شه، هیڅ غږ دې وانه ورم.
په غمجن انداز مې د پلار خوا ته وکتل چې هغه په کرکه راته وکتل، یو پوسخند یې وکړو او ویې ویل: ښه ده چې پوهېږې غوا یې. ټول باید پوه شي چې دا نجلۍ غوا ده.

ناڅاپه د کور د ماحول څخه د پخوانی یادونو خوا ته لاړم، یوځل بیا عمه زهرا زموږ کور ته راغلې وه. مور مې بیا ولادت درلود. دا ځل زه او مهناز، منصوره او مهدیه په انګړ کې وو. مهدیه چې یوه کلنه وه د مهناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غېږ کې وه. پلار مې په انګړ کې ګرځېده او هر وخت به يې عمه زهرا ته غږ کاوه او ترې پوښتنه به يې کوله چې ماشوم پيدا شوی که نه. عمه زهرا به هر ځل په ستړيا ځواب ورکاوه چې "نه، لا پيدا شوی نه دی. دېرې بې تابي مه کوه." خو زه وارخطا وم. وېره مې درلوده چې که بيا هم يوه نجلۍ پيدا شي نو پلار مې به بيا ژاړي او زموږ د مور ژوند به تريخ کړي. د زړه له کومې مې دعا کوله چې ماشوم زوی وي. د مورمې په مظلومۍ خوږېدم چې پلار به پرې چيغې کولې او ورته به يې ويل چې نالايقه يې او يوازې نجونې پيدا کوي.

څو ساعتونه تېر شول، موږ څلور خويندې په دې تود ګرمی ورځ کې يو ځای ناستې وې، له وېرې هېڅ مو نه ويل.د نوي زېږېدلي ماشوم ژړا کور ته خپره شوه. ټول وجود مې له درد څخه ډک شو. په وارخطايي مې پلار ته وکتل چې کړکۍ ته يې منډه کړه. عمه زهرا په رنګ بايللې څېره کړکۍ ته راغله او مخکې له دې چې پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې پوښتنه وکړي په لوړ غږ یې وویل: تاته د مور او پلار په روح قسم درکوم غالمغال مه کوه.
پلار د حویلې په منځ کې ودرېد او په حیرانو سترګو یې وپوښتل: څه شوي؟ زهرا څه شوي؟
عمه زهرا په ژړا شوه او ویې ویل: فخري نجلۍ زېږولې.

پلار څو شیبې عم ته وکتل، عمه په بېړه خپلې اوښکې پاکې کړې او په تلوار یې وویل:نجلۍ نعمت دی ورور، زه درې نجونې لرم، نو باید کفر وکم؟ ناشکري وکړم؟ همدا نجونې دی د بوډا توب لکړۍ او پناه ده.

عمه دا خبرې وکړل او په خپل لاس یې مونږ څلورو خویندو ته اشاره وکړه او ادامه یې ورکړه: مور او پلار دواړه ما وساتل په یواځې ځان مې د دواړو خدمت وکړو، تاسو ورونه خو کال تر بله کال پوښتنې ته یې نه راتلې ما تر مرګ دواړه وساتل،ګوره نجلۍ داسې د مور او پلار غمخوره او ساتونکې ده ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار د ترور د خبرو په منځ کې ټوپ وواهه او د زړه له کومې یې چیغې ووهلې او ویې ویل: دا ښځه غوا ده ، دا غوا ده .... غوا ده ، دا د غوا په څېر ده او زوی نه شی زېږولی .

او خپل سر یې په سوک وواهه، چې د منصوره او مهناز د ژړا غږ په هوا کې پورته شو ، او مهدیه چې ویې لیدل چې هغوی ژړا کوی. هغه هم وډار شول او ژړا ته یې پیل ورکړو زما وېرېدلې نظر په پلار باندې وو، چې خپل سر یه په لاسونو وهې او دا یوه خبره یې بار بار کول: دا ښځه غوا ده.... دا ښځه غوا ده ... عمه زهرا هغه ته زاری وکړه چې آرام شی او چیغې ونه وهی....

د پلار په غږ مې بیرته اوس وخت ته راغلم..
پلار- که ته د قیامت تر ورځې هم غوا ته ووایې چې انسانه شه، بیا هم نه انسانه کېږې او همغه غوا پاتې کېږی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاښونه مې يو پر بل کلک کړل د نورو د زړه سواند او ترحم لرونکې نظرونو لاندی زړه مې غوښت مړه شم، زړه مې غوښت پاسېږم او خپل د کوټې خوا ته وتښتم او پناه ویسم خو تیښته مې خپل تر حد نه ګڼل، نظر مې د مژګان د اوښکو ډکو سترګو باندې ولګېده،

پلار بغیر لدې چې د مجلس خلکو ته کومه توجه وکړې په یو ساه یې ویل چې زه غوا یم... غوا یم .... او غوا یم ... مژګان ته مې وکتل پدی کوته کې د موجود کسانو څخه یواځینې کس چې د هغه نظر څخه ما بد نه راتلل هغه مژګان وه، زړه مې غوښت د هغې پشان بغیر له کوم وېرې څخه وژاړم او اوښکي توی کړم خو امکان یې نه درلود، یواځې مې هغې ته کتل....

.................................

خپل د ورزش بکس مې پر اوږی سم کړو او په تروش تندې می مژګان ته وويل: چیرته ځې؟

مژګان- تر دی عمومی سړک مې ورسه وه، نور زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپــ...

خبره مې ورپرې کړل او ومې ویل: ومې ویل کوم ځای ته ځې؟ زه دې خپله ورم.

او کوښښ مې وکړو د هغې آرایش شوی څهری ته ونګورم، او نه هم د هغې ګلابې رنګ ټیکری ته دا شیانو زما خاوری شوی آرمانونه رایاد کول.

مژګان- غوارم د سړک هغه خوا بازر ته ولاړشم..

څه مې ونه ویل، مژګان ضرور غوښتل ځانته کالی واخلې، پوهېدم چې د هغې کالې اخیستل خوښیږی، تل خپل د معاش نیمه برخه پیسو باندی ځانته جامې، او آرایشی ځېزونه اخلې. کوښښ مې وکړو خپل فکر د دی خبرو څخه لری کړم دا فکرونو زه پعذاب کولم سترګې مې پټې کړل او کرار مې وویل: راځه زه دی ورم.

او دهغې څخه مخکې د حویلې د دروازی خواته روانه شوم، چط د هغې غږ مې خپل و شاته واورېدو.

مژګان- هغه ما ..... ویل ....ښه .... یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدم د پرون ماښام هغه رسوای ته يې اشاره وه، پرون ماښام د پلار د هغه هنرنمايی وروسته مهناز په تلوار خپل د خاوند او ماشومانو لاسونه ونيول او خپل کور ته ولاړل، او منصوری هم طهماسب ژر رخصت کړو، زه هم خپل کوټې ته ولاړم او تر سهار د يو څنګ پر بل څنګ شوم خو خوب رانغلو، مژګان زما دا بد حال لېدلې وو نو ځکه يې پوښتنه کول چې ښه يم او کنه؟

ښه نه وم، هېڅکله ښه نه وم، او ښه کېدل هم نه، ترڅو پلار ما مړه نکړي، او ما د دې ژوند خلاص نکړي زه ښه کېدونکې نه وم، د دی فکرونو پر کولو عصاب مې خراب شول او په تروش تندې مې وويل: ډېر خبری مه کوه مژګان او راځه..

د انګړ منځ کې وو چې کور ته علی راننوت، زما په لېدو يی سلام وکړو او د سترګو نظر يې ژر زما و شاته پر مژګان ولګېدې، ژوره ساه مې واخيسته او خپل وريځې مې پورته کړل، ډاډمنه وم چې علی پر يو بهانی باندې ضرور مژګان د څو دقيقو لپاره په انګړ کې دره وی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره خبرې کوي، او مژګان هم د خدای غوښتې ورسره درېږي او مجلس کوي...

د سر په اشاره مې د سلام ځواب ورکړو او د ځنګ ځخه يې تېره شوم، چې علي په کرار غږ وويل: څنګه ياست اغلې مژګان؟ څنګه ياست د دې يخې هوا سره؟ خپل سر مې د افسوس په نښه وښوراوه، نور بهانه ورته پيدا نشول اوس ورڅخه د آب او هوا پوښتنه کوي، په تروش تندې مې مژګان ته وويل: زه درته په موټر کې په تمه يم..

او په تلوار د حويلې دروازې خوا ته روانه شوم چې ناڅاپه عماد د دروازې خوله کې راښکاره شو، د هغه په لېدو فکر مې ماښام خوا ته لاړو چې ښه مې وربانډې خپل زړه يخ کړې وو او وهلې مې وو.
به پوسخند مې وروکتل، هغه زما په لېدو سترګه لا ونه رپه ول او په همغه کرکجن انداز يې راوکتل، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته نږدې شوم نو هغه يو قدم شاته واخيست او بيرته د حويلۍ حخه بيرون کوڅې ته ووت.

د هغه پدې کار حيرانه شوم، دا يې نوی لوبه ده؟ زړه مې غوښت د حويلۍ څخه بهر لاړه نشم خو ځانته مې وويل چې ډارنه نه يم، لاس مې د بکس په لاستی کلک کړو او پښه مې د دروازی څخه بيرون کيخودل او کوڅې ته ووتم، د څو شيبو لپاره مې عماد ونه ليدو خو ناڅاپه مې ورته فکر شو د ديوال په څنګ کې ولاړ و. ما غوښتل چې يو حرکت وکړم، خو ناوخته وه، هغه خپله لاس را اوږد کړ او زه يې له ګريوان ونيولم او ځان خوا ته يې کش کړم.

مخکې له دې چې ځان ورڅخه کش کړم، هغه خپل لاس شاته کړ او يوه درنه څپيړه يې زما په مخ ولګوله. ما غوښتل چيغه ووهم، خو ځان مې ونيوه، درد زما په سر کې خپور شو. عماد خپل سر ټيټ کړ او په سپک نظر يې راته وويل: موږ دوه پر يو شوو، کوچنی، همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس لاړه شه او د بیغرتانو پشان علی او مژګان ته ووایه چې ما وهلې یې، ورځه شابه ژر خبر ورکړه! بدبختۍ، بېچاره ورشه ورته ووایه!

ما خپل لاس پر خپل شونډه کېښود، زما شونډه خوږه شوی وه، هغه زما ګرېوان پرېښود، ما خپلې ګوتې ته وکتل چې ورباندې د وینې نښه وه، سر مې پورته کړ او عماد ته مې وکتل، هغه زما خوا ته وکتل او ناڅاپه حیران شو. په یوه شېبه کې د هغه د مخ حالت بدل شو او په یوه ټوکوونکي خندا یې وویل: همدا دی حق وو.

ما په څېر،ځیر ورته کتل، تر اوسه مې شونډی درد کوو، په زړه کې مې بیا کرکه راپورته شوه. ما له عماد څخه کرکه کوله، له دې چې زما درد یې نه حس کاوه او په غچ اخیستلو پسې و، له دې چې نه یې حس کاوه هغه وختونه چې ما دی وهلو او ورڅخه مې خپل د وهلو بوجۍ جوړ کړی وو، زه مجبور وم چې دی ووهم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکه مې ترې راغله، که ما هغه نه وايې وهلې، نو پلار به مې زه وهلم او زما مور ته به يې کنځل کول، هغه وخت زه ماشوم وم مګر زه څو کلنه وم؟ يواځې د اته کالو وم زه مې پلار مجبورولم چې د هغه څنګ ته ولاړه شم او د وژلو په نيت يې ووهم، په هغه ګومان چې زه به په خپلو پښو ودريږم او قوي به شم. زه څه پوهېدم چې زما پلار رواني ناروغ دی، او د دې خبرې له امله چې زوی يې نه درلود، زما روح ذره ذره وژني. په هغه وخت کې پدی ټولو خبرو نه پوهېدم.

ما يوازې غوښتل چې د خپلو خويندو په څېر د لوبو او ماشومانه شيانو سره وخت تير کړم. خپل لاس مې کلک کړ، بايد غچ مې اخيستی وای. پلار به تل راته ويل چې د هېڅ ژوندي موجود په وړاندې به سر نه ټيټوی، له هېڅ شي څخه به نه وېرېږې، او هېڅکله پرې نږدم چې څوک زما غرور مات کړي. په دې فکر مې خپله ملا برابره کړه او د عماد پر لوري مې حمله وکړل هغه شاته شو او خپل لاس يې د وهلو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کړ، ما خپل سر شاته کړ او زما لاس هم پورته شو، زموږ لاسونهله یو بل سره ونښتل په کرکه مې ورته وویل: وخت یې راغلې چې سم د عبرت درس درکړم.
هغه وخندل او ویې ویل: ته فکر کوې ستا قد او قواره زما سره برابره ده؟

هغه پر افسوس سر وخوځو او ویې ویل: بدبختۍ ستا له شونډی وینه بهیږي، نښه به پرې پاتې شي.
ما په غوسه او د غاښونو په چیچلو وویل: ستا دا کار به بې ځوابه پاتې نشې.
هغه زما لاس راکښې کړو زه یو څه مخکې ولاړم خپه شوم، زما زور هغه ته نه رسېده، اصلاً زه خو سړی نه وم. او زړه مې هم نه غوښت د یوه داسې هلک سره جګړه وکړم چې د هغه بدن زما دوه چنده لوی و. ما غوښتل چې له مژګان سره لاړه شم او جامې واخلم، هغه ښکلې خرګوشی جامې چې هغې د خوب په وخت کې اغوستې. دا ولې زما تقدیر دومره عجیب و. ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه باید له یوه هلک سره، چې د کرکې او کینې ښخه
ډک و، جګړه وکړم؟

ما عماد ته وکتل او د هغه سترګو زه یوځل بیا تېر
وختونو ته وېورم...

پلار په یوه هیجاني نظر ماته را وکتل او ویې ویل:
عماد ته وګوره!
ما سر تاو کړ او عماد ته مې وکتل، پنځه کلن و، د
حوض په څنډه کې ناست و، او لوبې کول پلار په یوه
ډارونکي غږ وویل: ورشه او هغه په اوبو کې
وغورځوه، ژر شه!
ما په اندېښنه وویل: پلار، هغه ډوبیږي.
پلار- په مرګ چې ډوبیږي لاړه شه هغه په اوبو کې
وغورځوه.
غږ مې ولړزیده او په ژړغونې غږ مې وویل: پلار زه
نغوارم جنګ وکړم.
پلار- ته غ ...ل خوری چې زما په خبری خبره کوی، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارم چې ته قوي لويه شي، ته بايد پر خپلو پښو ودرېږې! ورشه کوم کار چې درته وايم وکړه.

له هغه مې فاصله واخيسته او د عماد په لور لاړم، څو ځله مې شاته وکتل او د پلار په لور مې په اندېښنه وکتل، کله به مې شک کاوه، د هغه سترګې به پراخېدلې او ماته به يې د مخکې تلو ويل. زه د عماد څنګ ته ورسېدم، هغه سر پورته کړ او زما په ليدلو سره يې رنګ الوت، ما شونډې سره ټينګ کړل او ناڅاپه مې هغه د حوض منځ ته وغورځاوه. زما ويره ډکه سترګه د هغه پر لور پاتې شوه چې په اوبو کې پورته او ښکته کېده او چيغې يې وهلې. د قدمونو غږ مې واورېد، سر مې تاو کړ. ښاغلی کريم و په بيړه د حوض څنګ ته ورغی او خپل لاس يې اوږد کړ او عماد يې بهر راوويست. عماد په ژړا شو. ښاغلی کريم په غوسه ماته چيغه کړه: تا دا ماشوم په اوبو کې غورځولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ځواب ورنه کړ، او د وېرې څخه ولړزېدم، چې هغه بیا چیغه کړل: زه له تا نه پوښتنه کوم، تا دی غورځولې؟
د پلار چیغه مې واورېدله: ستا خیرن زوی په خپله اوبو ته ولوید، کریم خان، وزری دی کړې زما کور کې خپل غږ پورته کوی! غوارې په څپېړه دې د کور څخه باندې واچوم؟

ښاغلی کریم په قهر پلار ته وکتل، زما سترګه د پلار او ښاغلی کریم ترمنځ واوښته. ما هغه ټېله کړ، ما هغه په اوبو کې وغورځاوه. پلار مې ویل چې باید له نورو سره په مقابله کې ودریږم. نو ولې هغه دروغو وویل؟
ښاغلی کری پرته له دې چې د پلار ځواب ورکړي، شا وګرځوله او عماد یې په ژړا کور ته یووړ، پلار ماته چیغه کړه: رانږوځه کور ته شابه..

د عماد په غږ بیرته اوس وخت ته را وګرځېدم. زموږ لاسونه لا هم یو بل ته ترل شوي و. عماد په پوسخند

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما اوربه ځان خوا ته کش کره او ما چې هر څومره هڅه وکره، په خپلو پښو مې سمه ونه دریدلې شوم او د هغه خوا ته کرېه شوم د هغه زور ډېر و، هغه ډېر زور درلود، هغه اوس څلور کلن نه و، هغه اوس پنځه کلن نه و. اصلا زما زره دا د پيشی او موږک لوبه نه غوښتل،ما يوازې غوښتل چې خپلې ښکلا او ښځينه نرۍ ته لاره شم. د عماد له غږ سره مې سترګې پراخې شوې.

عماد- و ژارېه...

د هغه په خبره يو ځل بيا غرور او ضد مې را وپارېده، هغه غوښتل زه د هغه مخکې خپل غرور مات کړم خو امکان يې نه درلود،هغه خپل لاس شاته کش کړ، او زه هم ورسره کش شوم څو ګامه..
عماد- ژر شه، وژاره.
دا چې زور مې ورباندې نه رسيده زره مې له مايوسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډک شو، غوښتل مې چې یو معجزه پیښه شي او یو څوک ما د دې لېوني څخه وژغوري.

هغه په غوسه وویل: تاسو دواړو پلار او لور زما د ماشومتوب غوره کلونه تباه کړل.
ما خوله پرانستله او د هغه پشان په غوسه مې وویل: که لږ مو هم غیرت درلود نو همغه کلونو کې به مو ځانونه ورک کړې وایې او یو بل هدیرې ته به تللې واست، او زموږ کور به مو پرېخودلې وایې..
هغه د غوسې نه سور شو، غاښونه یې ټینګ کړل، او خوله یې خلاصه کړه چې ځواب راکړي چې ...
مژګان- متین؟!
د مژګان په غږ موږ یو دبل څخه جلا شو، او زه په تروش تندې ورڅخه لرې شوم، مژګان د دروازې مخکې ولاړه وه او په مشکوک انداز یې موږ دواړو ته راکتل.
مژګان- جنګ مو کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ مې ځواب ورکړو: نه.
او نظر مې د مژګان شاته په علې ولګېده چې عماد ته
په کتلو یې وپوښتل: نو څه کار مو کوې؟
عماد زما د ځنګ تېر شو او ویې ویل: ستړې مشي.
مژګان په وېرې او وحشت زما خوا ته راغله او ویې
ویل: په شونډې دې څه وې؟
عماد د تلو حال کې لږ تم شو، ما د مژګان لاس چې زما
د شونډې خوا ته غځېدلې وو لرې کړو او ومې ویل: د
بکس زنځیر ختا شو او پر شونډه مې ولګېده.
مژګان- وینه ورڅخه بهېږي.
— مهم نده.
عماد کور ته ننوت د ننوتلو مخکې مخ راوګرځه وو او
زما خوا ته یې یو نیم نظر واچو...

........................

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل دوه دانې تازه راغلې شاګردانو ته مې وویل:
ګوری په والیبال کې د توپ وهلو وخت کې مهم د لاس
پنجه نده، بلکې ګوتې دی باید خپل پر ګوتو توپ حصار
کړې او بیا پاس ووهې، اوس ماته خپل ګوتې را ښکاره
کړی.
دوارې انجونو خپل نرم او نازک لاسونه را ښکاره کړل،
سر مې وخوځولو او ومې ویل: د پاس ورکولو حال
کې باید ګوتې مې تر اخری حد ښکته کړې نباید نیغ
اوسیږی، او توپ به پر ګوتو نیسی نه د لاس په پنجه..

د توضیحاتو ورکولو حال کې مې نظر خپل به یو
شاګردې ولګېده چې د سالون د دروازی سره ولاړه وه
او هلته دهلیز خوا ته یې کتل، په غوسه مې چغې
ووهل: محدثه ته هلته څه کار کوی؟
هغې مخ را ګرځه وو او ویې ویل: ښونکي بهر شور
ماشور دی.
خپل چپ لاس مې پورته کړو یو څه درونـد وو او درد
یې کاو، د عماد سره د سهار جګړی وروسته داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وو،نور هم قهر راغې او چغه مې کړل: شور ماشور دې وی دی، په تا یې څه؟ مګر ته دلته کار نلری چې تللې هلته او د خلکو خبرو ته دی غوږ نیولی؟ صنف ته راشه او دیرش ځله په ټول سالون منډه کړه ترڅو بیا داسې کار ونکړې.

ورختا شول او ویې ویل:ښونکي پخدای بیرون جنګ او چیغو غږ وو.

– پر بلا چې جنګ وو، ته دننه راشه.

خفه او تروش تندي باندې رانوتل، ورته مې اشاره وکړل چې د سالون د ښي اړخ څخه منډه وهل پیل کړې، او هغې هم په ځړېدلې شونډو او تروش تندی منډې وهل پیل کړل، چې ناڅاپه د سالون دروازه خلاصه شوه او اغلی علوی د دفتر مسئول دننه راغله، خپل ټېکری کلک خپل په غاړه وپېچو او زما خوا ته راغله، تندی مې تروش کړو او ومې پوښتل: څه شوی اغلې علوی؟

زما په لېدو خوشحاله ښکاریده، په همغه خوشحالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: ای قربان مو شم اغلی فکور" زما کورنۍ نوم یا هم تخلص فکور وو. متین فکور" تاسو راشې دفتر کې یوه ستونزه پېښه شوی.

– څه شوی؟
علوی- تاسو راشې درته وایم.
پوران خوا ته مې مخ کړو او ومې ویل: پوران ته صنف ته پام کوه زه ژر راځم.
او بیا د اغلې علوی سره روانه شوم، د سالون څخه د وتلو وروسته هغې راته وویل: قربان مو شم خپل حجاب واغوندې.
تندې مې تروش کړو او ومې پوښتل: ولې؟
علوی- حجاب واغوندی بیا پوهېږې.

..................................

نظر مې په یو څوارلس،پنځلس کلنۍ جنۍ باندی ګنډلی وو، هغې خپل په غوږونو کې ګوشکیانې اچولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه او به بېحد بد ښول يې ژاولې ژول،يو لنډ حجاب يې اغوستي وو د تنګ پطلون سره ويښتيان يې هم د ټېکرۍ څخه بهر پر مخ ښواره وه،زما د نظر په لېدو يې خوله راته کږه کړل او ويې ويل: څه دی؟

د هغې څخه مې نظر واخيست او اغلی علوی خوا ته په کتو مې وويل: ښه؟

هغې دروغجن مسکا وکړل او ويې ويل: راغلې ترڅو ثبت نام وکړې.

تندی مې تروش کړو او ومې ويل: واليبال ټولګې کی؟

علوی- هو.

سر مې وښوراوه او ومې ويل: ښه نو ستونزه څه ده؟

علوی- ستونزه دا ده چې غواړی د غټانو ګروپ ته راشي نه د ماشومانو.!

– هوممم دا هم دومره ماشومه نده ثبت نام کړه، د همدی خبری لپاره مو زه راوغوښتم؟

اغلی علوی زما خبره را پری کړل او ويې ويل: زما ستونزه دا نده..

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې جنۍ خوا ته وکتل چې تر اوسه په همغه بد بېول یې ژاولې ژول او کرار یې وویل: خپل د ورور سره راغلې او جنجال یې وو د دوارو.

په بې حوصله انداز مې وویل: ورور یې چیرته دی؟

هغې په کراره وویل: بهر تللی، سیګرټ وهې.

نجلۍ بیا خپله ژاوله په لوړ غږ وچاودوله. چې زما عصاب یې راخراب کړل او په قهر شوم او ورته ومې ویل: خوله دې بنده کړه، ژاوله دومره مه چاودوه!

د توقع خلاف، هغې زما غږ واورېد او په لوړ غږ یې چیغې کړې: ښه کوم!

د هغې پدی بې ادبې زما عصاب نور هم خراب شول او په غوسه مې وویل: خوله دې بنده کړه، ماشومه!

هغې په ځواب کې لاسونه په ملا کېښودل او ویې ویل: خپله خوله دې بنده کړه!

د هغې په دومره بې ادبې مې عصاب خراب شول او پرې منډه مې کړه، خو په همدې وخت کې د علوي مېرمنې غږ راغی چې په ورختایې وویل: مېرمن فکورا!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د هغې غږ ته پام ونه کړ او نجلۍ ته مې وويل: خوله دې بنده کړه! څه بې حيا يې!
نجلۍ له ويرې څخه څو قدمه شاته لاړه او خپل لاسونه يې خپل د ساتني په توګه پورته کړل. زما غوسه ډکه څېره پر هغې ټينګه پاتې وه، چې ناڅاپه مې د هغې تر شا يو سيورى وليد. کله مې چې سر پورته کړ، يوه ځوان سړى د هغې شاته ولاړ و. تقريباً ۳۷-۳۸ کلن به و، غښتلې اندام او اوږدې سترګې يې د لومړي ځل لپاره پام ځان ته اړاوه. شونډې يې لږ شنې ښکارېدلې او يو خوا ته يې پورته کړې و.

هغه موسک شو او په طنزي انداز يې وويل: ماشالله! خومره تنده روزونکې مېرمن ده، او څومره هم ماشالله جګ قد لري!
ما په مشکوک سترګو ورته وکتل، لکه هغه وختونو پشان چې غوښتل مې د يو مضر کس خوله ور بنده کړم، خپل لاسونه په ملا کېښودل او په غوسه مې وويل: خپل ځان دى معرفي نه کړو ښاغلى نرم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازک...
زما په خبری حیران شو، د اغلې علوی غږ مې وآورېده چې کرار یې وویل: میرمن فکور ته وخدای ...

د اغلی علوی په غږ ما د هغې په لور نیم نظر واچاوه او د سترګو په اشاره مې ورته وویل چې چوپه خوله شي. بیا ځوان ته مې مخ را وګرځاوه د څه ویلو نه مخکې جنۍ بیا خولې ته ژاوله واچول چې ما په غوسه ورته وویل: دا غ ...ل دی له خولې و باسه، هر وخت یې پرق، پرق مه چاودوه.
نجلۍ په ویره خپله ژاوله تیره کړه، چې ما ځوان خوا ته مخ کړو او ومې ویل: ښه ...نو دا ستا غږ و چې دلته دی چیغې وهلې؟ دا ښځینه چاپېریال دی، پوهېږې؟
هغه وخندل او ویې ویل: دا ښځینه چاپېریال دی؟ نو حتماً تاسو هم ښاغلې او اغلې یاست!؟(مطلب نرښځې یا هم ایجړا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه د دی خبری نیش نیغ په نېغ زما په زړه ولګېده، زه نرښځي نه وم زه یوه انجلۍ وم یوه 34 کلنه جنۍ چې زړه یې غوښت ګلابی رنګ ناخنې رنګ ووهې، همدا رنګ چې دی بیعقلې انجلۍ وهلې وو، زړه مې غوښت ویښتیان مې لکه همدی انجلۍ پشان خپل په مخ را خوشې کړم، زه نرښځي نه وم زه یوه جنۍ وم یو کامل جنۍ. د زیات قهر څخه مې چپ سترګي وړپېدل او قهرجن غږ مې پورته شو: اوه زه بخښنه غواړم چې تاسو خپل ګمان په هر چا کوی، نازکې خوری موږک دی ونخوری...
زما په خبری د هغه پر شونډو خندا وچ شوه، زړه مې وربانډې یخ شو، ښه مې بیاب کړو غوښتل مې مخ ورڅخه وګرځه وم او لاړه شم چې د هغه ناڅاپه خندا حیرانه کړم...

د خندا په مېنځ کې وویل: واقعاً، دا ډول روزونکې مېرمن مې مخکې هېڅکه نه وه لیدلې!
بیا هغه خپلې خندا ته دوام ورکړو او په همغه خندا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: ډېر عجیب ښونکي یې، ایا تاسو رښتیا هم خپل پدی دومره زنانه اخلاقو دلته د خلکو د انجونو او ولورګانو معلم یې؟
په قهرجن نظر مې د هغه خوا ته وکتل؟ بیا مې نظر په اغلی علوی ولګېده چې د زیات وېرې څخه یې خپل ټېکری په غاښونو کې نېولې وو، د ځوان هلک خوا ته را وګرځېدم او په قهر مې ځواب ورکړو: د باندې لاړشه لدی ځایه شابه ...

هغه خپل یوه وریځه پورته کړل او ویې ویل: نه، مېرمن!
بیا یې د ستونې خلاصه ولو لپاره د دروغو یو ټوخ وکړو او ویې ویل: اغلې نرم، نازک او مهربانې، چیرته لاړشم؟ تازه خو موږ ستاسو مشتریان شو..
ناڅاپه هغه بیحیا جنۍ د ده په خبرو کې ځان واچو او ویې ویل: زه دلته نوم لیکنه نکوم، نغوارم دلته اوسیږم، اصلا زه ستا خبره منم هر لوبه چې ته ووایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغه کوم خو یوازې پدی جیم کې نه په بل کوم ځای کې، زه نغوارم د دې لېونۍ سره اوسېږم.

د قهر او غوسې څخه مې سترګې را ووتل،زړه مې د ټولو څخه ډک وو، خپل د پلار څخه چې خپل په روانې افکارو یې زه دلته رسه ولې وم، د عماد څخه چې زما مجبوری ته یې نه کتل او خپل د خر ضد یې نېولې وو،د اغلې علوی څخه چې زه یې تر دفتر راوړم او د دی بیعقلې جنۍ سره یې خوله پر خوله کړم،غږ مې پورته شو او په چیغو مې وویل: بنده کړه خوله دې، ورک شه لدې ځایه، ما ته لېونۍ وایې؟ که تر یوه دقی نور لدې ځایه لاړنشی نو د رښتیا لېونې کېږم او داسې کار درسره وکړم چې عمر لرې لیاده دې لاړ نشې...

په تمه وم چې ورور یې زما خلاف یوه خبره وکړې ترڅو، په ناڅاپه توګه ورباندې حمله کړم لومړې یوه لغته د هغه د پښو مېنځ کې ووهم بیا په څنګل باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه پر ملا کلک وار وکړم ترڅو ساه وانشي خیستې، په همدې فکرونو مې لاسونه موټ کړل چې د ځوان هلک غږ مې واورېده چې ويې ویل: امم زما په نظر خو بهترینه جیم او ښونکي ده! همدا شان ښونکي ستا په درد خوری اخیر هم یو داسې څوک پېدا شول چې ته ورڅخه و وېرېږی...

بیا یې نظر اغلې علوی ته چې په کرار خپل په څوکې کښېناستل وکړه او ويې ویل: اول کې لږ زړه نا زړه وم خو د دې ښونکي( د ست ګو له کونج هغه ماته راوکتل بیا یې په بېحد خوشحالۍ وویل: د لېدو وروسته پوه شوم چې د دې څخه ښه ښونکي زما خور ته نشي پېدا کېدلې نو همدلته یې نوم لیکنه کوم، څومره پیسي باید درکړم؟

د حیرت څخه په خلاصه خول مې هغه ته کتل، خپله یې امر صادر کو او خپل یې ورباندې عمل کوو؟ د رښتیا هم هغه فکر کړې زه دا بیحیا او سپین سترګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجلۍ دلته جيم کې پرېږدم؟ تندی مې تروش کړو او ومې ويل: کوم څه چې بېحد دی وطن کې زيات دی هغه جيم دی، نو خپله خور له لاسه ونيسه او د دی ځای څخه يې يو بهترينه جيم کې نوم ليکنه وکړه..

زما په خبرو هغه زما خوا ته راوګرځېده او په مسکا يې وويل: جيم خو زيات دی خو ستاسو پشان ښونکي چې دومره قوی او با اخلاقو وی کله پيدا کېږی؟ ته ماشالله ځانته يو نر يې...

بيا لېونۍ کړم، ولې نه پوهېدی چې ما د دې الفاظو څخه کرکه کېږې، نر ... نر ... نر په غوسه مې وويل: وا دی نه وريدو چې څه مې وويل؟ دا ماشومه زه دلته په جيم کې نه نيسم...
هغه جنۍ چې تازه بوهه شوم نوم يې طنين په کراره يې وويل: خپل ماشومه يې ...

د هغې خوا ته مې منډه کړل چې انجلۍ چيغه کړه او خپل د ورور خوا ته ورغلل، او په ژړا يې وويل: تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ونه ویل پخدای ځانته مې وویل، ساشا راځه پخدای ښه انجلۍ کېږم پخدای رښتیا وایم، یواځې د دې ځای څخه راځه.
د ساشا د نوم په آورېدو په خندا شوم، خیررن د ۳۷/۳۸ کالو سړی دی او نوم ته یې ګوره دا نو څنګه نوم دی ساشا؟ هغه سړی ته چې اوس پوه شوم نوم یې ساسا دی ور ومې کتل او په پوسخند مې وویل: ښه به دا وو چې نیوشا دی خپل نوم کېخودلې وایې! ستا د نرم او نازک بدن سره هغه ښه ښکارېده ..

زما په خبری حېران شو! په ځېر،ځېر یې را وکتل او بیا ناڅاپه په خندا شو،نه پوهېدم چې ولې دی نه په قهر کېدو؟ هرڅومره چې ماغوښتل په غوسه یې کرم بیا هم نه غوسه کېدو، او خوله یې جېنګ نېول!
طنین د خپل ورور خوا ته ورغله او د هغه د کورتې لستوڼې ونېو او په زاریو ورته وویل: ساشا راځه چې لاړشو کور ته، پخدای ښه جنۍ کېږم او نور دی نه پعذاب کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساشا په خندا وویل: امکان نلری چې لدې ځای څخه قدم لا واخلم! همدلته دی نوم لیکنه کوم، همدا ښوونکي په دوه میاشتو کې ستا څخه انسانه جوړه ولې شې.

بغېر لدې چې د هغه خبری ته کومه خاص پاملرنه وکړم د کوټې د دروازی خوا ته روانه شوم او اغلی علوی ته مې وویل: اغلی علوی نوم لیکنه به یې نکوی دلته، زه عصبی یم یو خل بل زما ومخې ته دا رقم راغله وهم یې خوله او غاښونه یې ورباندې مات کوم.

زما په خبرو د طنین چغه پورته شوه او په ژړا یې وویل: ساشا ته وخدای راځه کور ته ...

د هغې د وېرې په لېدو شیطاني مسکا مې پر شونډو راغله او د کوټې څخه د وتلو مخکې مې خپل غږ ډبل کړو او په ویرونکي انداز مې وویل: که زما پر عصابو لاړه شې په لغت یې وهم او پوښتی ور مات کوم ..

د دې خبری سره د طنین چغی نور هم زیات شول، او زه په خندا د کوټې څخه خپل د صنف خوا ته روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم ...

..........................

د سړک څنګ کې مې موټر و دروه، په تمه وم چې عماد خپل د دوکان څخه بهر شي. علی او عماد دواړو د ټیکر او حجاب پلورلو دوکان درلود دوکان یې کرایې وو، دومره زیات ګټه یې نه درلود خو دومره وه چې د دوی ګوزاره وشي ورباندې او کوم بل کار ونکړي، کله ناکله تلل او د تهران څخه یې نوی ډیزاین حجابونه او ټیکری راوړل، مژګان، مهدیه او منصوره تلل د هغوی کور ته تلل او هغه نوی راوړی ډیزاین حجابونه او ټیکری دوکان ته د وړلو مخکې خوښه ول او اخیستل، زما په خیال په همدی تګ راتګ کې مژګان او علې یو بل خوښ شوي وه!

خو تر اوسه یواځې په حد د همغه خندا او سترې مشي کې وه دواړه، او خبر زیات نه وه جدی شوی. زه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم چې څه چل دی د دوارو منځ کې! ما ته مژګان نه وو ویلې بلکې خپل پوه شوی وم اود هغه دلیل هم دا وو چې پلار تل ماته ویل خپل پر خوېندو پام کوه چې پښه کږه کې نږدې! خو خپله یې یوځل هم خپل پر لورګانو پام ونکړو یواځې د خلکو خولې ته بې سترګي نیولې وه که چا ورته خبر راوړی وایې چې منصوری پښه کږه کېخودلې نو چغې او پوغی وهل کور یې به سر اخیست او هغه یې وهل، که خبر شوی وایې مهدیه ټیکری لږ شاته کش کړی وو او ویښتیان یې د ټېکری څخه بهر راوتی وه، نو وهل به یې کول، بیا به یې ماته کنځل کول چې ولې خپل په خوېندو پام نکوم!

ولې غیرت نلرم، ولې د وسه او نامرده یم؟ کله چې عمر یې یوڅه زیات شو نو انجونو دومره د هغه خبرو ته غوږ نه نیو بلخصوص مژګان چې د همغه ماشومتوب څخه د پلار خبره نه منل او او ما هم وربانډې پام کوه او اجازه مې نه ورکول پلار یې پعذابه کړې، ځکه هغه ډېره ښکلې وه او هم خوش اخلاقه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماته هم ډېره ګرانه وه. کله مې چې عماد د دوکان
څخه د بهر راتلو حال کې ولېد، له خپلو سوچونو
راووتم او نېغ کښېناستم. د تل پشان د سړک غاړې ته
راغی او چکر يې واهه. پوهېدم چې له علي نه مخکې
کور ته ستنېږي. دا مې ښه وخت وباله چې خپل غچ
ورڅخه واخلم. د هغه په وينا: بايد د هغه په وړاندي
مې د بيغرتي لاره نيولې وايې او غچ مې ورڅخه
اخيستي وايې.

عماد په مقابل کې مې هيڅکله مخامخ جګړه نشوی
کولې، زه د هغه د لوړ قد، پراخه اوږو او د لاسونو د
زور نه وم،د هغه مقابله سرېانو لا نشوه کولې څه
ورسيږی و ماته چې خپل پر ځان مې لا وس نه رسېده،
موټر ته مې حرکت ورکړو او د هغه په لور مې موټر
روان کړ. څو متره نږدې شوم چې د موټر هارن مې
ووهه. د هارن وحشتناکه غږ د سړک په اوږدو کې
خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عماد سر را وګرځاوه او چې موټر يې وليد، نو د بچ کېدو بله لاره نه وه بايد ځان يې وغورځولې وايې او ما هم همدا غوښتل چې هغه ځان په کلک سړک وغورځوي. څنګه چې مې غوښتل، هماغسې وشول. عماد د موتر څخه د بچ کېدو لپاره ځان بلخوا وغورځوه..

د څنګ څخه يې تيره شوم او موټر مې څو متره وړاندې ودراوه او بيا شاته راغلم، او د هغه څنګ کې مې موټر ودروه،هغه لا هم پر ځمکه ناست و او خپل د لاس څنګله يې نېولې وه داسې ښکاره چې درد يې کاوه. د هغه په بې خونده حال مې خندا وکړل. مخ يې را وګرځه وو ترڅو کنځل وکړی خو زما په لېدو حيران يې راوکتل چې ما په پوسخند ورته وويل: څه حال دې دی، موټريه؟
هغه شونډی و ځځولې او غوښتل چې راپاسيږی خو د درد څخه يې غږ بورته شو او بېرته پر ځمکه کښېناست، چې ما وخندل او په ملنډو مې وويل: تخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زخمي شوی؟ فکر دی چیرته وو؟ مغزی خو دی ندی مات شوی؟

زما په ملنډو د هغه وینه په جوش راغله او چیغه یې کړل: د سپي لوری...
ما ورته په همغه خندا وویل: خپله به یې ...
عماد- خولې دی در ماته کوم.
– ای تخو تر اوسه ژوندی یې؟ خیر پروا نلری، د عمر اخیره دی ده.
د یو ځوان هلک په لېدو چې په تلوار راغي او د عماد څنګ کې کښېناست تندی مې تروش شو، هلک د عماد اوږه ونېول او ویې ویل: وروره، څه وشول؟ نږدې وه چې د موټر لاندی دی کړی.
بیا هلک زما خوا ته مخ کړو او چیغه یې کړل: اوووو رندی چا تاته د موټر چلولو اجازه درکړی؟نږدی وو وهلې دی وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې حخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم عماد تندی تروش کړو او په تنده لهجه یې هلک ته وویل:په تا پوری اړه نلری، مداخله مه کوه.

هلک- خو وروره ...

عماد- ومې ویل کنه په تا اړه نلری، ورځه خپل د کار پسي.

خو هلک په کلک لهجه وویل: ګوره ورور ما د دی د موټر نمبر بلیټ راوخیست، شکایت کو او زه هم شاهید وم چې ته یې وهلې په موټر..

ناڅاپه عماد د هغه هلک ګریوان راونیو او په غوسه یې ورته وویل:

درته وایم لاړشه خپل د کار پسی، چا ته که دی خبره کړی وه خوله دی در مات کوم.

هلک په حیرانتیا باندی عماد ته وکتل، د هغه له څنګ پاڅېده او زما خوا ته راوکتل بیا یې په کراره وویل: سمده چا ته څه نه وایم راځه لاړشو شفخانی ته..

(c) ketabton.com: The Digital Library

عماد چغه کړل: درته وایم لاړشه خپل د کار پسی زه ښه یم.

هلک په حیرانتیا وروکتل او د څنګ یې تیر شو او ولاړی، عماد زما خوا ته را وکتل او په تروش تندی وویل: دوه په دوه شو، متین..
پوسخند مې وواهه او له هغه ځایه روانه شوم.

.........................

مژګان د د هلېز منځ کې د منصوری او مهدیه سره ناسته وه او به شوق سره یې خپل اخیستل شوی شیان ورته ښودل، زه د هغوی څخه لرې د تلویزون خوا ته ناسته وم او په ظاهره مې تلویزیون ته کتل خو ټول فکر او ذکر مې د هغوی خوا ته وو، مژګان چې هر پلاستیک راخیست او خپل اخیستل شوی شیان یې ښودل زما زړه خپل په ځان درد کاوه، هغې ځانته یو جوړه قهوی رنګ جګ بوټونه اخیستي وه، یو دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښایسته ټېکرۍ او حجاب اخیستي وو، او یو کوچني کوټ یې اخیستي وو، زما آرمانجن نظر د هغې په اخیستل شوی شیانو باندی وو، زړه مې غوښت چې کاش ما هم د هغې پشان یو دانه ښایسته ټېکرۍ درلود! لارې مې تېرې کړل د دهلېز ماحول راته زړه ونېو ... پاڅېدم او خپل د کوټې خوا ته روانه شوم

لا کوټې ته ننوتي نه وم چې د پلار غږ مې پورته شو چې مژګان ته یې ویل: پورته کړه دا شیان دی، تللې یو سلو اتیا بیځایه شیان یې اخیستي بیا راغلې په خوشحالۍ هم ناسته ده نورو ته یې ښایې.
خپل قدمونه مې تېز کړل ترڅو ژر کوټې ته داخله شم، پوهېدم چې زهرجن غشې زما خوا ته هم راځې لا کوټې ته رسیدلی نه وم چې د هغه د غږ په اورېدو سترګي مې پټي کړه.
پلار- اوو خرۍ، غوا لکه خر پشان دی سر ښکته اچولې او کوټې ته روانه یې؟ ته باید دا انجلۍ انسانه کړې وایې، تا باید د دوي پښي ورمات کړې وایې ترڅو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللې نه وايې او دا رقم شيان يې نه وايې اخيستي، تا زما ټول زحمتونه پر باد کړل..

بيا کرار ځان سره لګيا شو: کوم ځای مې غلطي ومړل چې دا انجلۍ داسي شول؟ ما خو د اول څخه خپل انتخاب سم کړی وو، نو بيا دا ولې غوا شول؟
همغسې چې شا مې ورته ګرځه ولې وه لاسونه مې موټ شول، او فکر مې کلونه شاته سفر وکړو ....

مور پرېدلې رنګ دواړه لاسونه يې خپل پر نس کېخودلې وه، او د درد څخه پر ځان تاويده. زه نه پوهېدم چې څه ورباندې شوی او ولې داسی درد لری؟ هره شيبه يې د خدای او رسول نوم اخيست او له درد په ځان تاوېده زه مهناز او منصوره شاوخوا يې ناستي وو او په ورختای مو ورته کتل، د شپږ مياشتني مژګان د ژړا ونګ ونګ غږ کوټه کې خپرېده مهديه په پرېدلې رنګ د کوټې کونج کې ناسته وه، مور په پرېدلې رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمورې خوا ته راوکتل او کرار يې وويل: زما حالت ښه ندې.

د مور راوتلې خيټې ته مې وکتل خپل په همغه پنځه شپږ کلن مغزو پوهېدم چې مور مې بيا ماشوم لرى،لاس مې اوږد کړو د مور اوږه مې ونېول او ورته مې وويل: مور جانې څه کار وکړم درته؟
مور مې د درد ځخه په بند بند لهجه وويل: ه..... هې .... خ .... هېڅ.
د حويلې د دروازى په ټک زمورې زړونو کې د اميد رڼا وځلېده ، پلار مې کور ته راغلې وو، درى واړه خويندې په تلوار د هغه خوا ته مو منډه کړل، زمورې د وېرېدلو څهرو په لېدو پلار مې تندى تروش کړو او ويې ويل: څه شوى؟
او مخکې لدې چې مورې ورته څه ووايو هغه د مور خوا ته پام شو چې په درد سره د کوټې کونج کې پرته وه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې په لوړ غږ وویل: فخری څه شوی؟ اوس خو یې وخت نه دی، لا یې پنځه میاشتې پاتې دي.
مور خپله خېره راټوله کړه او په درد یې وویل: درد لرم، موسی خان.
پلار مې د مور خوا ته منډه کړل چې ناڅاپه د مور چیغه په ټول کور کې خپره شوه. منصوره او مهناز د دروازې څنډې ته ولاړې وې، حرکت یې نه کاوه. خو ما د مور لور ته منډه کړه، لا ورته نه وم رسېدلې چې د هغې له جامو لاندې وینه مې ولیده. هلته کلک ودرېدم.
د پلار چیغې زه له ځایه پورته کړم: و ولېد؟و ولېد؟ ماشوم ولوېد؟ وای وای ماشوم ولوېد، خدایه، ماشوم ولوېد! کېدای شي هلک و، شاید هلک و....

بېرته اوسني وخت ته راغلم. په غوسه وم یاد مې شو چې پلار د مور د بې‌حسه جسد پر سر تر پنځه دقیقو چیغې وهلې چې ماشوم هلک وو او ضایع شو، او بیا یې په نه زړه سره مور روغتون ته ورسوله. د هغه لېونتوب هېڅکله زما له ذهنه نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دلته ولاړ دی او راته وايي چې د خپلو خويندو د جامو اخيستو مخه ونيسم؟ ولې بايد داسې وکړم؟ ايا هغوی نجونې نه وې؟ ايا ښځې نه وې؟ ايا د ښځې نرۍ ښکلا غوښتل نه وی؟ دا سړی څه پوهېده چې ښځه څه ده؟ خپله ښځه يې درک کړل؟ مګر خپله دويمه لور يې درک کړې وه؟ له دې لېوني مې څه تمه لرله؟

ځان مې وښوراوه او پرته له دې چې د هغه بې‌دريغه کنځاوو ته پام وکړم، کوټې ته دننه شوم.پنځه دقيقې تېرې وې، په کټ کې پرېوتی وم او چت ته مې کتل.چې دروازه وټکيده، او مژګان کوټې ته رانوته. د هغې خواته مې د سترګو لاندې وکتل چې خپلې نوې جامې يې په غېږ کې نيولې وې. ورو يې په پښه دروازه بنده کړه، جامې يې پر ځمکه وغورځولې، ژوره سا يې واخيسته او ويې ويل: پلار خپل عقل له لاسه ورکړی! والله دوه ورځې وروسته به راشي و به وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لورګانو خپل برېتونه پرېږدئ، ترڅو د چنګېزي ماډل په خېر اوږده شي.

او بیا خپل په خبرې په خندا شول، خوا دا ځل یې زه خبرو ته موسکی نه شوم، زما زړه سخت درد وکړو.
لدی چي مژګان په بیغم زړه خپل د زړه خبره منې او همغه کار کوی خو زه یې نه شم کولای
مژګان- متین، دا ښایسته ده؟
ما خپل لاس د تندي له پاسه پورته کړ، سر مې وښرخاوه، او په ګلابې ټېکری مې سترګې ولګېدې. زړه مې و لړزېده. ما له همدې ګلابې ټېکریو څخه غوښتل. مژګان د ځان لپاره ګلابې ټېکری اخیستی و. هغې ته ښه ښکاره کېده، زړه راښکونکی ښکارېده، ښځینه ښکارېده. له ترو ترو شونډو مې سر وښوراوه او په کټ کې مې ځای بدل کړ. مخ مې ترې واړاوه. د کټ په ښورېدو پوهه شوم چې مژګان مې څنګ ته کښېناستل، لاس یې زما د ویښتو په منځ کې تېر کړو، چې ما خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر ورڅخه لرى کړو او په تروش تندې مې وويل: مه کوه.

يو ناڅاپه، مژګان زما پر سر ټيکرى کېښود. له ځايه راپورته شوم، لاس مې په سر کېښود، او په ګلابې ټېکرې مې سترګې ونښتې. حيرانه د مژګان خواته مې وکتل. چې هغه موسکۍ شوه او ويې ويل: ستا لپاره مې اخيستى.
له ځايه مې ځان ته حرکت ورکړو، خو سترګې مې له مژګان څخه جدا نه شوې. باور مې نه کاوه. دا ټېکرى زما و، زما خپل؟ مژګان زما لپاره اخيستى و؟ دا يوازې زما و؟ ټېکرى مې په لاس کې ونيو، نږدې و چې سترګې مې له اوښکو ډکې شي، خو ځان مې کنټرول کړ.
مژګان- متين، نور بس دى، ولې ځان دومره په عذابوې؟ هيله درڅخه کوم هماغه کار وکړه چې ستا زړه غواړي، هغه شئ واغونده چې ستا خوښېږي، تور

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ پرېږده، ګلابي واغونده، سره واغونده، لکه نورو انجونو پشان، څه بډول چې ستا زړه غواړي .

سترګي مې په ټېکرى باندې ښخ کړى، زړه مې غوښتل چې هغه واغوندم. خو د دې ليوني پلار سره څه وکړم؟ د دې ټولې کورنۍ ستونزو سره څه وکړم؟ مژګان بيا وويل: متين، هيله کوم د يوه ځاى نه شروع وکړه. زه نه غواړم درس درکړم، خو دا دومره موده ته ډېره وځورېدې نور وخت يې راغلې چې د ځان لپاره ژوند وکړې.

د ځان لپاره ژوند وکړم؟ ما هم همداسې غوښتل، خو په دې ليوني کور کې ژوند کول د ځان لپاره ګناه وه، ناممکنه وه.
ټېکرى مې په خپلو لاسونو کې کلک ونيو، او ورو ورو مې هغه لرې کش کړو، ټېکرى د سر نه مې وښويېده مژګان اه وکړل او ويې ويل: ډېر درسره ښه ښکارېده متين!زه هم پوهېدم چې دا رنګونه زما لپاره جوړ شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، او ښه ښکاری راسره خو بیا مې هم ټېکری لری کړو
او د مژګان پر زنګونو مې وغورځاوه او ومې ویل:
خپله یې په سر کړه.
او غوښتل مې د کټ څخه ښکته شم چې مژګان لاس
راڅخه ونیوي او ویې ویل: متین هر کار لومړی سخته
او ستونزمن ده خو کرار، کرار عادت ورسره کوی، زه
ستا سره یم منصوره او مهدیه هم څه ناڅه ستا پخوا
دی، مور خو تل ستا خوا نیسي پلار نور نشې کولې پر
....

خبره مې ورپرې کړل او ومې ویل: نور څه مه وایه.
مژګان- متین!
خپل لاس مې د هغې د لاس څخه جلا کړو او ومې
ویل: پدی منځ کې داسې شیان برباد شوی چې
هېحکله نه جوړېږي.
مژګان- لکه څه؟
– لکه روح مې.
مژګان په زاریو وویل: جوړېږي باور وکړه، تر اوسه نده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوخته شوی.

– ناوخته شوی مژګان روح مې زخمي شوی ټوټې شوی.

هغې بیا زما لاس ونېو او ویې ویل: جوړه وو یې ټول په ګټه یې جوړه وو.

پوسخند مې وواهه او ومې ویل: څنګه جوړه وی زما زخمونه؟ کوک کوی که څنګه؟

دا ځل مې خپل لاس ورڅخه په زور کش کړو او ومې ویل: که کوک یې هم کړی بیا هم د کوک نښه پاته کېږي کوچنې خوری، د کوک نښه تل پاته کېږي.

او نظر مې په ګلابې رنګ ټېکری بند پاتې شو، د زړه له تله مې هغه ټېکری غوښت، هغه زما وو هغه راته مژګان اخیستي وو، هغه زما وو، خو د دی کوک سره مې څه کړی وایې؟ خپل د روح د دي کوک سره مې څه کړی وایې؟

...............................

(c) ketabton.com: The Digital Library

پداسې حال کې چې په جوش او خروش باندې شاوخوا ګرځېدم غږ مې پورته کړو او ومې ویل: پوران لوړ پاس را واچوه غوارم تاته وښایم څنګه باید خپل هم ډلې لوبغاړي ته پاس ورکړې؟
پوران په مهارت سره توپ زما خوا ته راواچوه او زه هم دوه ګامه شاته ولاړم او په پوره زور او مهارت سره مې توپ بیرته د پوران خوا ته وواهه خو زما د لاس ضربه دومره کلک وه چې پوران وډاره شوه او د توپ نېولو لځایه یې خپل مخ پټ کړو او چیغه یې کړل: وای اغلې ښوونکې.
تندې مې تروش کړو او چیغه مې کړل: وای او بلا اغلې ښوونکې، دوه کاله کېږي دلته راځې ما پدې دوه کالو کې څومره ویلې چې هېڅکله به د توپ څخه نه تښتې ها؟

زما په لوړ غږ ټول سالون کې خاموشی خپره شوه او ما نور هم خپل غږ پورته کړو او دا ځل مې ټول مخاطب کړل او په غوسه مې وویل: که یو نفر تازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشې او ستاسو دا رقم لوبه وګورې په شرمو به مو وشرمه وی، دا دوه کاله کېږي تاسو ټولو ته لګیا یم چې د توپ څخه مه تښتي او اوس؟
د توپ خوا ته ولاړم را پورته مې کړو او په همغه غوسه ناک لهجه مې وویل: پوران پاس درکوم لکه د انسان اولاد پشان یې ونیسه، که دا ځل وغواړې ورڅخه وتښتي داسې وهل درکړم چې عمر لرې درته د عبرت درس وګرځي.

پوران په اندیښني باندې خپل ځان چمتو کړو او ما توپ هوا ته ختا کړو او د همغه بل ځل پشان البته دا ځل د هغه څخه لا یو څه زیات کلک مې توپ د هغې خواته وواهه توپ څرخ وخوړو او د هغې په سینه باندې ولګېده، سا یې بنده شوه سترګي رډې راوختي او د خلاص شونډو څخه یې دا کرار غږ زما غوږونو ته راغلو: وای .... خدایه .... مړه ... شوم ...
د هغه د دې حال په لېدو تندی مې تروش کړو او چیغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې کړل: پاسېږه او پر سالون باندې ۳۰ ځله منډه ووهه شابه...

د سالون د دروازې په خلاصیدو د پوران څخه مې نظر واخیست، نظر مې په یوه ډنګرې او ټیټ قدې جنۍ ولګېده چې سور لنډ کوټ یې اچولې وو. د کوټ ډېزاین او رنګ مې خوښ شو ما هم دا شان کوټ ته زړه کېده، سترګي مې د هغې د جامو څخه واخیسته او د هغې و مخ ته مې وکتل او ناڅاپه حک حیرانه شوم! طنین وه چې سالون ته راننوتله او په وېرې او وحشت یې د سالون دروازه د ځان پسي بنده کړل او کرار د دیوال کونج کې و درېده د هغې په لېدو عصاب مې تر اخرې حده خراب شول، را بیحیا جنۍ راغلې وه زما ټولګي ته؟ څرمن مې ورڅخه باسل او ورور ته مې ور استول..

د هغې خوا ته مې منډه کړل او د منډې حال کې مې چغه مې هم ووهل او ومې ویل: چا تاته ویلي چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګې ته راشې؟ ها؟
زما په لېدو د هغې رنګ و الوت او د وېرې څخه يې
چغه کړل: ما نه غوښتل راشم خو ورور مې په زوره
راوړم..
چغه مې کړل: اوس ستا او ستا د ورور حساب در
رسيږم ..
هغې په وېرې او ژړغونې غږ ووېل: اوس ځم... پخدای
اوس بيرته ځم...
او د دې څخه مخکې چې زه ور ورسېږم هغه د سالون
څخه ووتل، په غوسه مې خپل ويښتيانو کې لاس کش
کړو، دا انجلۍ مې هېڅ نه خوښېدل. د دې په لېدو ما
خپل خاوری شوی ارمانونه سترګو ته راتلل، لاسونه مې
پر ملا کېخودل او هملته د سالون منځ کې ولاړه وم..

د سالون د دروازی خواته مې وکتل بيا مې خپل
شاګردانو ته وکتل د تلو څخه منع شوم او غوښتل مې
خپل شاګردانو خوا ته ورشم چې ناڅاپه د سالون
دروازه کلک، کلک و ټکول شول، غوږونه مې تېز کړل يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چغه وهل او ویل یې: میرمني بهر را ووځې، راشې ستاسو سره کار لرم...
تندی مې تروش شو غږ مې وپېژنده د ساشا غږ و؟!
ساشا- بیرون راشې میرمني، شابه، کنه زه دننه درځم، اوری ښاغلي اغلې تاسو ته وایم...
د هغه د غږ سره سم مې د اغلی علوی غږ واوریده چې ویې ویل: ښاغلی! تاسو نشی کولې زنانه سالون ته ننوځې هلته ټول ښځې دی..

د ساشا د خندا غږ مې واورېد چې ویې ویل: پروا نه لري، زه له ښاغلې،اغلې سره کار لرم هغه زموږ د ډلي څخه ده.

کله چې مې دا خبره واورېده، زما د غوسې رګ را پورته شو. د را څورېند شوی حجابونو او ټېکریانو خوا ته ورغلم، او د خپلو زده‌کوونکو څخه مې تر ټولو نږدې حجاب او ټېکری واخیستې او د سالون د دروازی پر لور مې منډه کړه.له سالون بهر ووتلم. په لومړۍ شېبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې مې نظر د ساشا په مخ کې پاتې شو. هغه لاسونه پر ملا کیخودلې وه او زما مخې ته ولاړ و او په خندا یې ماته کتل. سترګې مې پټې کړې او د اغلی علوي پر لور مې وکتل. هغه د خپل میز شاته په ویره ولاړه وه، مخ یې زېړ و. پر هغې مې غږ وکړ: اغلی علوي نو ته ولې د دې میز شاته ناسته یې چې هر کس او ناکس راځې او دلته ګواښونه کوی چې زه زنانه سالون ته ننوځم؟زه د داسې کس مور د هغه پر مړی ورته کېنوم چې داسي غ...ل وغواړی وخوری...

اغلی علوي په وېره وویل: ما خو پرې نښود چې دننه درشي.
په لوړ غږ مې وویل: نه؟ نو په کار وه چې یالون ته دی پریخودی وایې ترڅو زموږ بدن یې بې ستره لېدلې وایې؟
د ساشا په غږ سره مې سترګې د حیرت څخه پراخې شوې: هوممم ولاي که د هر چا بدن ته مې کتلې وایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتل مې خو والله ستا خوا ته مې نه درکتل، اخیر د یو
اغلې او ښاغلې(مطلب نرښځې) بدن د لېدو نه وو..

ساه مې بنده شوه، زړه مې په درېدو وو. د ده هدف او
مقصد څه و؟ ایا ده فکر کاوه چې زه د رښتیا هم
نرښځې یم؟ یا دا چې زه نظافت نه کوم؟ یا دا چې زه
ناپاکه یم؟ ناپاکه دی خپله دی او د ده خور او ....
خپل فکرونه مې لرې کړل او په غوسه مې پرې ور
ودانګل. هغه حیران شو او ونه توانېد چې عکس‌العمل
وښایي. او ما په ټول زور سره د هغه په سینه وار
وکړو او ومې ویل: بې پلاره!
هغه حیران شو او همغسې حیران یې وویل: څه؟

بیا مې هغه ټېله کړو: له دې ځایه ووځه!
طنین د هغه پر لور منډه کړه او د لاس څخه یې ونیوه:
ساشا، ته وخدای راځه ولاړ شو...
بیا مې هغه ټېله کړو چې لږ پښه یې کږه شول او نږدې
وو چې وغورځېږی خو خپل ځان یې کنټرول کړو، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په پوسخند ورته وویل: اغلې نیوشا خپل ګرانه او شهزادګې خور در واخله او لدی ځایه ووځه، ګوره چې زما هغه خطرناک ارخ را ونه پاروي!

هغه یو قدم شاته شو او بغیر لدې چې زما پوسخند او ګواښونو ته کوم پامو وکړی ویې ویل: یوه دقه ته زما خبري واوره. که مې قانع نکړې نو زه ځم.

زه لا زیاته په قهر شوم او چیغه مې کړل: زه به ستا خرافاتو ته غوږ ونه نیسم هغه چې ستا له خولې وځي؟ هری! وځه...
هغه خپل سر وخوځاوه: یواځې پنځه دقیقې غوږ شه.
بیا مې د هغه پر سینه زور ورکړ، هغه بیا شاته ولاړ: وایم نه، مزاحم! بې کس! بی مور وپلاره له دې ځایه ووځه.
اغلی علوي په وېره وویل: میرمن فکور ستا قربان شم، د خلکو په منځ کې داسي رسوای مه جوړه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لوړ غږ مې وویل: رسوايې دا ده چې دا سړی دلته ښځینه جیم ته راغلی او بیځایه خبری کوی.
طنین په ژړا وویل: ساشا، راځه لاړ شو.
یو لحظه مې نظر په طنین باندې ثابت شو، چې ژړا یې کوله او ریمل یې په مخ خپور شوی و. په ذهن مې تیر شول چې څوارلس کلنه نجلۍ دې دومره ډېر میکاپ وکړي، او زه بیا دومره ساده وم چې یوه ګلابې ټېکری مې له ړېری نشو اچولې. غوسه مې زیات شو. غوښتل مې بیا د ساشا سینه ته ټېله ورکړم، خو هغه ناحاپه زما لاس ونیوه او ویې ویل: راځه له جیم نه بهر خبرې کوو، یوازې پنځه دقیقې.

په لوړ غږ مې چیغه کړه: ته په کوم حق ما ته په خپل ناپاک لاسونو لاس اچوې؟
هغه په زور زه د وتلو پر لور کشه کړم او ویې ویل: ستا ډېر وخت نه نیسم.
ما خپل لاس کش کړ، خو هغه ډېر زورور و. ما ورسره مقابله و نشو کړی، عماد مې یاد ته راغی؛ ما له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره هم مقابله نه‌شوه کولای. په حقیقت کې، زه له
هېڅ نارینه سره مقابله نشم کولای. او نه مې هم
غوښتل چې مقابله وکړم. زه خو څه جانسینا نه یم؟ زه
یوه نجلۍ وم، یوه بدبخته ښځه.د ځان سختولو هڅه
مې وکړه، خو ګټه یې ونه کړه. پام مې طنین ته شو،
چې له جیم نه په تېښته ووتله. ساشا بیا هم زه کشوله،
لاس او پښې مې ووهلې، په لوړ غږ مې وویل:
حرموني مور دی درته په ویر کېنوم د سپي زویه!

کله چې مورږ د سالون څخه بهر په کوڅه کې ودرېدو،
هغه لا هم زما لاس نیولی و. ما هڅه وکړه چې په لغته
یې ووهم، خو هغه زما فکر ولوست او ژر یې ځان شاته
کړو او ویې ویل:یوازې زما خبره واوره! ولې له نرمو
خبرو سره مشکل لرې؟ ته خو ځناوره نه یې، دا
حرکتونه څه دي؟
او بیا یې په مسلسل ډول تکرار کړل: اغلې، ګرانې،
میرمن فکور، ارامه شه!
کله چې یې ولیدل چې زه نه آرامېږم نو په لوړ غږ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیغه کړه:ما خو غوښتل درته ووایم چې ګلابي رنګ ځومره درسره ښه ښکاري! د رښتیا هم ښکلي او ځوانه ښکاري. دا سپین حجاب هم ښکلې درسره ښکاري، له دې سره ستا قد هم هېڅ بد نه ښکاري. خو تا څه وکړل؟ زه دی په سینه ووهلم، سپکې سپورې دې راته وکړل. ولې دومره بېادبه یې؟

ما د خپل مقاومت څخه لاس واخیست او بېوسه شوم. هغه وویل چې ګلابي رنګ ماته ښه ښکاري؟ رښتیا یې وویل ګلابي رنګ ماته ښه ښکاري. ما خپل ځان ته کتل، د سر ټکری مې ګلابي و، حجاب مې سپین وه، خو د هغې تبۍ خلاصي وې. شونډې مې ولړزېدې. هغه وویل چې سپین حجاب زما سره ښه ښکاري. وروستی ځل کله کوم نارینه زما ستاینه کړې وه؟ هېڅکله. هېڅ نارینه ما ته هېڅ اهمیت نه‌و ورکړی. خو دا ځوان سړی زما ستاینه وکړه. زما مسحور شوې سترګې د هغه تیاره نسواري سترګو ته خښې شوې، هېڅ مې سترګي ونه ترړل، خو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېښېده چې اوس د هغه وار و چې خپل غوسه راخلاصه کړي. په لوړېدونکي غږ یې وویل: دا زما ناسکه خور ده. د مور څخه مې یوه ده.

مور مې شل کاله وروسته له دې چې پلار مې وفات شو، بیا واده وکړ او نتیجه یې دا نجلۍ شوه. د هغې پلار مړ دی، مور مې هم مړه شوې، او مسولیت یې پر ما دی. خو زه سهار او ماښام په دفتر کې کار لرم، وخت نه‌لرم چې هغې ته پام وکړم. سر زوره شوې، بې‌ادبه شوې، بې‌پروا شوې. نه پوهېږم چې له چا سره ځي او له چا سره راځي؟ له ځان سره مې وویل چې کلب ته دې راشي، بوخته به شي. هغه ورځ چې دې ته مې ولیدلې، طنین له تا څخه وډار شوه. پوه شوم ته هماغه یې چې دا ماشوم درته ارتیا لری بالاخره باید له یوه چا حساب ویسي، سمه ده که نه؟"

زه ډاډ من وم چې په دوو درېیو میاشتو کې به دا آرامه شي. خو تا څه وکړه؟ هسې دې جنګ وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنځلې دې وکړې.ما په خندا او شوخۍ هر څه پټه ول،
خو تا بیا بد رد وایې. دا ټول کرکه او غوسه د څه
لپاره؟ مور تازه دوه ورځې کیږي چې یو بل مو لیدلی.
ته دا بکواس کلب څنګه اداره کوي؟ یوازې د روزونکې
نوم دې خپل کړی، محترمې مېرمن فکورا!"
بیا یې د "میرمن" کلمه په زوره سره ادا کړه، چې زه
پرې حیرانه شوم. هغه خپل دواړه لاسونه په جېب کې
واچول او په تروش تندی یې وویل: د نور کسانو
ستونزی درته مهم ندی، یواځې یو بیځایه غرور دی
دوه لاسه نیولی او په همغه باندی مخکی روانه یې، او
که چا ستا د طبعیت خلاف خبره وکړل وربانذی منډه
وهی..

بیایې پوسخند وواهه او ویې ویل: پاتې شه خپل د
غرور سره، و به وینم چې پدی غرور باندې به د نړۍ
کوم خوا ونیسي اغلې ښوونکي؟
او بیا شاته وګرځېده او طنین ته چې د وېرې څخه یې
خپل نوکان خوړل ویې ویل: راځه، ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طنین په ویره د هغه خواته لاړه او ورو یې وویل: زه بیا دې کلب ته نه راځم، سمه ده؟
ساشا بغیر لدی چې زما خوا ته وګوري زما د څنګ تیر شو، او طنین ته یې وویل: نه، نه راځې.
طنین په خوشالۍ د هغه پسې ورمنډه کړه: وای خدایه، خلاصه شوم!

................................

د هینداری مخې ته ناست وم او ځان ته مې کتل. سترګې مې په خپلو سترګو کې خښې وې، بې خط، بې ریمله، او بې سینګار، غټې او ښایستي وی، خپل تور او غټ وروځو ته مې لاس ور وړ. یو ویښته مې هم نه‌و اخستی. خپل غټ پوزې ته مې وکتل، داسې نه‌وه چې په نظر بد ښکاري.د مخ د کاسي سره مې ښه معلومېده. نازکو شونډو ته مې وکتل. یو آه مې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مې پر خپلو اوږو راښکته شو. ساشا په څو جملو زما ټوله نړۍ بدله کړه. هغه ویلي وو چې ګلابي رنګ ماته ښه ښکاري. کلونه وشول چې زما په زړه کې دا آرزو وه چې یو پردی سړی زما ستاینه وکړي. کله چې یې وویل چې سپین حجاب مې قد ته ښه ښکاري، داسې مې حس کړه چې نړۍ زما ده. سترګې مې کلکې پټې کړې، د هغه غږ زما له ذهنه نه وته. غوښتل مې چې بیا زما ستاینه وکړي.

که هغه ما په سور ټیکرۍ کې ووینې، څه به یې ویلي وای؟ ځان مې وخوځاوه او ځانته مې وویل چې هغه تللی دی! ما دومره سخت چلند ورسره وکړ چې لاړ، خپلې خور یې په کلب کې داخله نه کړل. خپله شونډه مې وچیچله. ایا هغه په رښتیا زما سره مینه لرله؟ حتماً داسې وه. خپل زړه مې یو خوځښت احساس کړ. بیا مې په هینداره کې ځان ته وکتل. شاید غوره وایې لږ سینګار مې کړې وایې، خپل سترګي مې یو پر بل کلکې کړې نه دا کار نشم کولې کورنۍ او خلک به څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایې؟ د هغه بغېر ما سینګار کول ندی زده، بې هدف مې د الماری لومړې پله حلاصه کړه سترګي مې په ګلابې تیکری ولګیده همغه چې راته مژګان اخیستي وو!

په زحمت سره مې خپل لاړې تېری کړې، سترګي مې ورڅخه نشو اخیستي. یو عجیب حس مې درلود داسې چې زړه مې غوښت هغه ټیکری پر سر کړم او کلپ ته لاړه شم، شاید نن ساشا او د هغه خور بیا کلپ ته راشې! هغه خپل ویلې وه چې خپل د خور د کنټرول کولو نه یم! او خور یې زما څخه ډاربدل، ما هغه انسانه کول، داسې چې نور خپل ورور پعذاب نکړې، ساه مې تېزه شوه لاس مې بې اختیاره د هغه ټیکری خوا ته وغځېده، لاس مې زما په کنټرول کې نه وو ترڅو پر خود راتلم هغه ټیکری مې خپل پر سر کیخودلې وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو نيم نظر مې هېنداره کې ځانته وکړو ګلابي ټېکرى او تور حجاب مې اغوندلې وو، تغير مې کړې وو د يو ټېکرى سره مې ټول قواره بدله شوى وه، نور هغه تور ټيکرى او تور حجاب اغوندونکې انجلۍ نه وم، زړه مې غوښت مژګان ته نارى کړم ترڅو ما پدى نوى حال کې وګورى، خو په ياد مې شول چې هغوې په کور کې نشته او ټول تللې دى د مهناز کور ته هلته ورته ميلمستيا کړې وه، بغير د پلار څخه چې هغه د تل پشان د مهناز د کور لځايه بيرون بل ځاى تللې وو، او ما ته هېڅ مهم نه وه چې چېرته تللې دى. ځان سره مې وويل که څوک کور کې وايې نو ما هېڅکله دا ټېکرى په سر کوى نه، پدى فکر باندې خپل قدمونه تيز کړل خپل د کوټې څخه ووتلم، داسې احساس مې کاوه چې د کور ديوالونه او کړکي ما خورى..

ترڅو حويلې ته رسيدم دوه درې ځله پښيمانه شوم او خپل ټېکرى باندې مى لاس وواهه، خو بيا مې ځان را کنټرول کړو او ځان سره مې وويل ژر موټ کې کښېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نيغ په نيغ کلپ ته لاړه شه، د اغلی علوی او زما د شاګردانو نظر د کور د ماحول څخه راته آسانتره وو، هغوی راته داسې په ځېر، ځېر د کتلو جرئت نه درلود که کتلې وايې سترګې مې ورڅخه راويستل، زړه مې غوښت ساشا راشې او ما پدی ټېکری کې وګوری او زما د

زنانه ښکلا تعريف وکړې، ما يواځې همدا غوښتل او بس. د حويلې د دروازی خوا ته مې قدمونه تيز کړل، او همغه حال کې مې نظر د ښاغلی کريم په کور ولګېده د هغوې کور هم نن خالې وو!

ښاغلې کريم او ميرمن بانو يو چيرته تللې وه او علې او عماد هم سل په سلو کې د ورځې پدی وخت کې په دوکان کې وه، ساه مې بنده کړه او د تک انداز مې د منډو وهلو پشان شو، لا د حويلې دروازی ته نه وم رسېدلې چې دروازه په قلف کې کيلې وڅرخېده او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه د حرکت و ولېده! څومره زه بد مرغه او بدبخته یم. د ورځې پدی وخت کې ځوک کور ته راغلې؟

او پدی فکر چې پلار که حویلې ته راننوځې، د بدن رګ رګ مې د وېرې څخه ولړزیده د کور خوا ته د منډه وهلو وخت نه وو، یواځې دومره مې وکولې شو چې شاه وګرځه وم! په تلوار مې خپل د حجاب ټېې خلاصې کړل ترڅو ټېکرى خپل د حجاب لاندې پټ کړم. څو شېبې چوپه چوپتیا وه دومره جرئت مې نه درلود چې مخ وګرځه وم او وګورم چې څوک راغلې؟

هغه کس چې کور ته را ننوتې وو په ځغاستو شو، غوښتل مې خپل په لاسونو کې راچنګ شوی ټېکری د حجاب لاندی پټ کړم چې د شالخوا ټېله شوم او پړ مخې پر ځمکه وغورځېدم، لاس مې بیا هم په ټېکری پاتې شو نه مې غوښتل چې هغه څوک وګوری بغیر د مژګان څخه! خو هغه چا چې زه ټېل وهلې وم هغه مژګان نه وه مژګان زه هېڅکله داسې نه ټېله کولم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهن مې پر فعالیت پیل وکړو او ډېر ژر مې نفر پیدا کړو دا عماد وو! د هغه د قهرجن غږ په آورېدو سترګي مې یو پر بل پټي کړې.

عماد- انسان و انسان ته رسیږی کنه بیعقلی؟
ساه مې بنده شوه ولې باید دې مې اوس لېدلې وایې؟ ولې باید اوس راغلې وایې؟ دا ګلابې رنګ ټېکری چې لاسونو کې مې وو، نه مې غوښتل په هېڅ حال کې هغه ما د دی ټېکری سره وګوری، درد مې درلود خیټه مې په ځمکه باندې پر غورځېدو خوږه شوی وه خو مهم نه وه مهم دا ټېکری وو چې عماد نه باید لېدلې وایې، زما سر ته راغلو او پر دوه پښو کښېناست په پوسخند یې وویل: پاڅېږه بیغرت خلک بر ځمکه څملې.
په غوسه مې خپل غاښونه وچیچل او ومې ویل: ورک شه د دې ځایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوږو مې لاسونه ولګېدل او هغه وويل: پاڅېږه.
ما مقاومت وکړه، بايد دا ټېکرى مې د خپل حجاب
لاندې پټ کړى واى. ببوسۍ مې په زړه کې ځاى
ونيوه. د شا برخه مې درد کړه، لاس او پښې مې
وخوځولې. عماد په قهر وويل: ولې جفتکى وهې؟
پاڅېږې شابه بېرته وګرځه!
– ورک شه، شاته شه ..
هغه وخندل او ويې ويل: غواړې چيغې ووهې؟ نارې
وکړې؟ داسې چې ګواکې ګاونډيان دې مرسته ته
راوبولې او ووايې چې دا هلک ما ځوروي؟ په خداى که
دا کار وکړې، نور بې حسابه کېږو او زه درسره کار نلرم.
تندى مې تروش کړو چيغې وهل؟ نه، دا هېڅ امکان نه
لري چې زه چيغې ووهم. خپله کمزوري هېڅکله چاته
نه ښکاره کوم، او د ته خو يې بيخى نه ښکاره کوم.

و ټوخېدم او و مې ويل: دا آرمان په ګور ته ويسي چې
زما چيغې واورې..
هغه بيا مسخره وخندل او ويې ويل: همدا وجه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۴ کلنه رواني پاتې شوې!
بیا یې په قهقه وخندل او ویې ویل: ستا هغه رواني پلار چېرې دی چې تا په دې حالت کې وګوري؟ یاد مې دی چې څو ځل یې ویلي و چې ښه څوک مې انتخاب کړی چې ټینګ او قوي یې وروزي. اوس چېرې دی چې دا قوي شخص وګوري چې څنګه زما تر لاس لاندې ځان ورکوي؟
ما د درد او غم سره د هغه د غچ اخیستونکو سترګو ته وکتل. تېر وختونه مې مخې ته راغلل...

مور مې لاس دیوال ته نیولی و او ساه یې اخیسته. د هغې د مخ رنګ ژیړ شوی و. په وېره مې د هغې خولې شوي مخ ته کتل. دا حالت راته اشنا و، لکه شپږ میاشتې مخکې چې د هغې وینه روانه شوې وه. بیا هم د هغې حالت هماغه بډول و. بې اختیاره مې وخت پر وخت د هغې لمن ته کتل. داسې مې احساس کاوه چې هره شیبه به مې د هغې د لمنې لاندې وینه ووینم. پلار په اندېښنه د هغې شاوخوا ګرځېده: فخري، څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي؟
مور څو ځلې ژوره سا واخیسته او په بېوسۍ یې
وویل: ته زما په اړه اندېښنه لرې، که د دې لعنتي
ماشوم په اړه چې تا زما په ګېډه کې پرې ایښی دی؟

ما خپل نوکان په غاښونو وچیچل. مهناز او منصوره
زما شاته پناه اخیستې وه. مورې هېڅکله مور نه وه
لیدلې چې د پلار سره په غوسه خبرې وکړي. پلار په
حیرانو
سترګو ورته وکتل او ویې ویل: یعنی امکان لری دا
ماشوم هم ضایع شی؟
مور ځان لږ تېیت کړ او په درد یې وویل: موسی، زه نور
اولاد نشم راوړلې، ته ولې نه پوهېږې؟ زه تل وېرېږم
چې دا ماشوم به هم انجلۍ وي، بیا به ته ځمکه او
آسمان په ما خراب کړې. زه یوازې غواړم چې هغه
پنځه نور ماشومان لوی کړم.
پلار په غوسه نعره ووهله: ته غ....ل خورې، زه زوی
غواړم! زه زوی غواړم په خدای قسم، زه به تا او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه نور انجوني پر سر کښېږدم یوازې ما ته یو زوی راکړه!

مور خپل بل لاس د ګېډې لاندې کېښود او ویې ویل: زه نور اولاد نشم راوړلې... دا هم... دا هم د لاسه وتونکی دی!
پلار په غوسه چیغه کړه: یو زوی غواړم!
بیا په اجازی وویل: نه، فخری، ته وخدای دا وساته دا خامخا زوی دی، زه پوهېږم چې دا ځل زوی دی، ما خوب لیدلی چې دا ځل زوی دی.
مور په ځان له درد څخه و پېچېده او چیغې یې ووهل: څه بل ښځه وکړه چې تا لپاره زوی وزېږوي، زما د سر نه لاس واخله.
پلار په قهر شو: زه بل ښځه نه غواړم، زوی راوړه، دا وساته، راځه ډاکټر ته ځو، یقیناً دا به ژوندي پاتې شي.

مور په چیغو سره وویل: یا الله! مرم، ای خلکو!
زما اندېښمني سترګي د مور په لمن باندې خښ پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، بیا مې وینه ولیده، بیا مې د هغې د لمن لاندې وینه ولیده. حیران ورته کتل چې د دیوال څنګ ته ولوېدله او بې حاله یې وویل: موسی! زه دې نه بخښم. ټول ژوند دې راباندې ضایع کړ. زه نور نشم حامله کېدلی. په خدای قسم بس ده!

پلار دې ځل نه چیغې ووهلې، نه یې ځان وواهه، نه یې فریاد وکړ. څو شېبې بې حرکته مور ته کتل، داسې چې ګواکې بې هوشه وه، منصوره او مهناز په ژړا د مور خواته ورمنډه کړه. زه په خپل ځای ولاړ وم.
سترګې مې د سالون چاپېر وګرځېدې. مهدیه او مژګان په سالون کې هغې خوا ژړل.پلار خپلې سترګې له مور نه پورته کړې او د کور چت ته یې وکتل او ویې ویل: ته و ماته زوی نه راکوې خدایه؟ نه یې راکوې؟ دا ستا اراده ده؟ سمه ده، زه به د دې ارادې سره جګړه وکړم. زوی نه راکوې؟ مه یې راکوه، زما د سر فدا دی شی، نور زه زوی نه غوارم. مګر زه به له دې نجونو نه یوه داسې روزم چې زما غوښتنې پوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې په ځېر نظر سره د مهناز خوا ته وکتل او ویې ویل: دا زما مشر اولاد دی خو نه، دا ضعیفه ده، ژاړي.
او په عجیب ډول یې موسکا وکړه او منصورې ته یې وکتل چې د مور لستوڼې یې کش کاوه او ویې ویل: نه، دا هم نه، دا هم عرر وهي.
سر یې وګرځاوه او سالون بلې خواته یې وکتل او ویې ویل: هغوی هم بېځایه عرر وهی هغوی هم غ ...ل دی.
یو ناڅاپه یې نظر زما باندې پاتې شو چې بې حرکته د سالون منځ کې ولاړ وم. زما خواته راغی. چې زړه مې ولړزیده. خوله مې وچه شوه، او هغه ته مې وکتل. سترګې مې هم پټې نه کړې. لاس په ملا مخې ته مې ودرېد او ویې ویل: ته ولې نه ژاړې؟

ځواب مې ورنه کړ. ژبه مې بند شوې وه، چې بیا یې چیغه کړه: ته ولې د هغه خرو پشان نه ژاړې؟
خوله مې خلاصه کړه او کرار مې وویل: پلار، ژړا مې نه راځي.
هغه وېرووونکې موسکا یې لا ژوره شوه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحالې وويل: آفرين، ښه ده، همدا ښه ده، ته له ټولو قوي يې، ته به هغه شې چې زه يې غواړم. ته به د دې ټولې کورنۍ شا وي، هر څه چې زه وايم ته به يې مني.

او ويې خندل بيا يې وويل: فخري، نور له تا نه زوی نه غواړم، نور خلاصه شوې، همدا لور به زموږ ټولو ملاتړ وي. شل کاله وروسته وګوره چې څه کېږي.

د بندو شونډو سره مې ورته کتل. هغه زما خواته راغی او ويې ويل: له نن نه به ته هغه څه کوې چې زه وايم.

ما لاړې تېرې کړې او په ويره مې وويل: مور ناروغه ده، ډاکټر ته يې نه بيايې؟

هغه شا ته وګرځېد او مور ته يې وکتل چې سترګې يې بندې وې، بيا يې راته مخ کړ او سر يې وخوځاوه او ويې ويل: ښه ده، همدا غواړم له تا څخه. ژړا به نه کوې لکه د دې څلورو بيعقلو غوندې، خو پام دې وي چې د ټولو خيال وساتې. هغه په لوړ غږ وخندل او د کوټې چت ته يې وکتل او بيا د ليونيانو پشان يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړ غږ وویل: خدایه اوس نو ته تقدیر را کش کوه او زه به ستا تقدیر برباد کوم، ما ته زوی نه راکوی؟ بیخی له سر مه راکوه،  همدا جنۍ څخه درته هلک جوړه وم اوری؟؟

او بیا یې په منډه د مور خواته لاړو: پاڅه فخري، ډاکټر ته به ځو...

له پخوا وخت بیرته اوس وخت ته راغلم، عماد زما اوږو ته نژدې شوی و، په زور یې غوښتل چې ما وګرځوي. زړه مې غوښتل چې په لوړ آواز وژاړم او ورته ووایم: زه یوه بدمرغه نجلۍ یم، له ما لاس واخلئ چې دا لعنتیټ ټېکری پر سر کړم او سالون ته لاړه شم.شاید ساشا به راغلی وی او زه به یې لیدلې وای، زما ستاینه به یې کړې وای، زما د ښځینه نرۍ ښکلا به یې وستایله، او شاید هغه به مې میین شوی وای. یو ناڅاپه یوه ښه احساس زما په زړه کې راغی. واده کول او مور کېدل زما تر ټولوستره هیله وه. مور به شوم، خپلې لور به د زړه په وینو روزم او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمق پلار ته به وښایم چې لور باید پر سر کېښودل شي، نه چې تر پښو لاندې شي.

د دې فکر سره مې بدن نرم شو، او عماد زما د بې‌خبرۍ شخه ګټه واخیسته. مخکې تر دې چې ځان پوه کړم، په شا څملاستې وم. زما ډارېدلی نظر په ګلابې ټېکری ولګېد چې په لاسونو کې مې و. وډاره شوم او هغه مې د حجاب لاندې واچوه. عماد خپلې سترګې تنګې کړې:
دا څه دی؟
ما شاته وکتل: هیڅ نه!
هغه غصه شو او ویې ویل: دا څه دی چې په لاس کې دې دی؟

هغه زما لاسونه ونیول چې د درد له امله مې لاسونه شل شول. ټېکری یې زما له لاسونو کش کړ. په وېره مې ورته وکتل. هغه ټېکری خلاص کړ، څو شېبې ورته و کاته، زما شونډې په بې‌اختیاره توګه کش شوې. لا هم په شا څملاستې وم او ځان مې نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوځولی.عماد ټېکری له مخې لرې کړ او زما په سترګو
کې يې ځېر،ځېر وکتل. يوه شېبه مې غوښتل چې ما
سم ووهې، يا مې په مخ تف وکړي. خو داسی را
ونګوری، ما داسی حال کې ونه ويني،ټول غرور مې د
هغه مخې ته په هوا والوته. هغه پوه شوی و چې
ټېکری مې پر سر ايښی دی.

هغه په کراره نظر او قدمونو زما څخه لرې شو، ټېکری
يې قات کړو او زما پر سينې کيښود، او بيا له هغه
ځايه پاڅېده. د دروازې لور ته لاړ، او مخکې تر دې چې
ووځي سترګې يې زما خوا ته راوکتل يو دقيقې مو يو
بل ته کتل. بيا هغه سترګې له ما واړولې او له کوره
ووت...

..........................

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټول دوه ساعته کې چې په کلب کې مې لوبه کول، و دې ته انتظار وم چې طنین به دروازه پرانیزي او په ویره به د سالون په ګوښه کې ودریږي. تمه مې لرله چې د ساشا غږ به له دفتره راووځي. خو نه طنین راغله او نه د ساشا غږ مې واورېد. څو ځل بې‌سبب د اغلې علوي خواته لاړم، لږ څه مې زړه ته نیولې وه چې پوښتنه وکړم: طنین رانغله؟ ساشا رانغله؟

خو په سختۍ مې ځان کنټرول کړ. خوله مې نه خلاصېدله. لکه د ځکندن حال کې د چرګي پشان و ارام او کرار مې نه درلود،ولې را نغلل؟ آیا ساشا...

دومره ژر یې ځان وایست او لاړ؟ د څو سختو خبرو نه و وېرېده؟ یا ورته بد ولګېده؟ خپل د هغه سپین سترګي خور سره به یې څه کول؟ څنګه یې کنټرول کولی شو؟ اصل کې دا ټول د عماد ګناه وه. په نا مناسب وخت کې راغی او زما ښه ورځ یې خراب کړه. که دا جنجال نه وای جوړ شوی، زه به د ګلابې ټېکری

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره سالون ته تللې وم. کېدای شي ساشا هم راغلی وای. خو مجبوره شوم چې هغه تور ټېکری په سر کړم. ما یو ځای لوستلي و چې هر څومره منفي فکرونه خپروو، هغه ورځ مو لکه زهر شي. عماد هم زما ورځ لکه زهر کړه.

سترې او عصبي خپل د ورزش بکس مې موټر ته وغورځوله او حرکت مې وکړ. زړه مې غوښتل چې سر مې په دېوال ووهم. ساشا به نور نه راتله. د تل لپاره تللی و. زه پاتې وم او هغه ویرانوونکی یوازیتوب چې ورو ورو به مې له منځه وړی. په قهر مې پر سټېیرنګ لاسونه ټینګ کړل. یوه شېبه مې زړه شو چې سر مې په سټېیرنګ ووهم، خو پر ځای یې یوه بده خبره مې وکړه. د عماد خبره مې مخې ته راغله چې ټېکری یې قات کړو او زما په سینه کې یې کېښود. ولې څه یې راته ونه ویل؟ ولې یې مسخره نه کړم؟ ولې یې و نه وهلم؟ که یې ویل چې دا شېبه مې د دې شیانو ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، نو زغمل به مې. لکه زړه يې چې را باندې سوځېدلی و؟

له دې چې څوک زما په حال رحم وکړي کرکه لرم. د هغه په وينا، مور دوه په دوه نه و؟ اوس چې و، لس په دوه وو، بې نهايت په دوه، تر قيامت پورې ورته رسېدلی نه شم. حتی په بېغرتي کې هم ورته رسېدلی نه شم. او د دې فکر سره مې موټر چالان کړ. د هغه دوکان ته تللم، ورته وايم چې ومې وهه ترڅو درې په دوه شو. زړه مې تنګ شو او درد يې کاوه. په زړه کې مې اور بل و. د دې ټولو بدمرغيو او ستونزو مسؤل څوک و؟ زما رواني پلار؟ که زما بې وسه مور؟ شايد زه خپله، چې دومره کلونه وروسته را په ياد شو چې ښځه يم او احساسات لرم. سټيرنګ مې چپ اړخ ته واړاوه. عماد هم زما د ژوند ټولې خواوې خرابې کړې وې. هغه ټول کلونه راسره بد چلند کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما نظر په یوه څوارلس کلن هلک په لور شو او تېر وخت ته لاړم...
مهناز د برنډې په اخره کې ناسته وه او ورځپاڼه یې پاس ښکته کوله. بانو په مهربانۍ ورته کتل. مور مې، چې په لاسونو کې یې سبزي نیولې وه، ورځپاڼې ته یې وکتل او ویې ویل: ستا نوم نه و؟
مهناز وارخطا شوه او په بې حوصلګۍ یې وویل: مورې، ما مې وارخطا کوه.
زه چې لاس په سینه د زینو سره ناست وم، په ټیټ غږ مې وویل: غږ دې مه جګوه!
مهناز ځان را غونډ کړو او کرار یې وویل: کوم بد مطلب مې نه وو.

سر مې وخوځاوه او ومې ویل: وګوره چې کامیابه شوې که نه؟
مهناز په اندیښنه یې وویل:پلار به ما پوهنتون ته پرې نه ږدي، زه پوهېږم.
ما نظر په مژګان ثابت کړ، چې په لاسونو کې یې سبزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولې وه او پاکه کول یې، په غصه مې ورته وویل: زه به یې راضي کړم، ته یوازې وګوره چې کامیابه شوې که نه؟
هغې په خوشحالۍ وویل: رښتیا وایې، متین؟
– هو، ته ښه وګوره چې څه دې کړي دي.

او د دې خبرې سره سم نظر مې په څوارلس کلن عماد باندې ولګېدې چې د حوض څنګ کې د علی سره ولاړ وو، زړه مې غوښت ورشم او لړ یې ووهم، زړه مې ډک وو ما هم غوښت کنکور آزموینه ورکړم او پوهنتون ته لاړه شم، خو پوهېدم هلته په تلو او هغه رنګارنګ انجونو په لېدو وضعیت مې خراب کېږي، دا چېد عادی او نرمال انجونو پشان نه وم دا کار زه غوسه کولم، دا چې هغوې رنګارنګ بکس او جامۍ اغوندلې شو او ما نشو کولې دا خبری زه پعذاب کولم.

مهناز دا دویم کال وو چې کانکو آزموینه یې ورکول، پلار څو ځله ورته ویلې وه چې نه یې خوښېږی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

درس ووایې خو زه پوهېدم چې پلار څنګه راضی کړم، د زینو څخه پاڅېدلم او د عماد خوا ته ورغلم، د مهناز خوشحاله غږ مې واورېده چې مور ته یې په کانکور کې خپل د منلو زیری ورکو چې همدلته په یو پوهنتون کې د کمپیوټر ساینس په رشته کې منل شوی...
بانو د خوشحالۍ څخه غږ پورته کړو او ویې ویل: مبارک دې شه لور جانې، زموږ د افتخار سبب شوی.. د هغې په خبره مې لږ شانتې مسکا پر شونډو راغله، عماد ته نږدی شوم چې زما په لېدو هغه خپل لاسونه پر ملا ووهل او را ویې کتل، د مهناز غږ مې واورېده چې په خوشحالې ویل: خپل وعده دی لیاده ونوځې متین جان، پلار به راضی کوی..

د عماد یو قدمي ته ورسېدم غوښتل مې خپل قهر او غوسه پر هغه خالې کړم، بې شمیره وختونه زما د وهلو بوجۍ جوړ شوی وو، بی حساب یې زما د لاس څخه وهل خوړلې وه، سترګي مې وځلېدی او لاس مې پورته کړو غوښتل مې په سټ یې ووهم خو هغه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارادی پوه شو او ځان يې شاته کړو، او په لغته باندې په پښه ووهلم،د ډېر درد څخه مې ساه اخيستل لياده ووت! لا د هغه د لغتی څخه نه وم خلاصه شوی چې په بکوس باندې په ملا ووهلم او چيغه يې کړل: نور ما ته نږدی رانشی بی شرمی سپين سترگی جنۍ... او د دې خبری سره سم يې په نس باندی په گونډه ووهلم، چې د حوض څنگ کې د زيات درد څخه وولېدم.

او زما د غورځېدو سره سم د بانو او مور غږ مې واوريده چې چغې کړل.
بانو- يا الله خير، څه وشو؟ تاسو دواړو ولې بيا جنگ وکړو؟
عماد چغه کړل: اول هغې وار وکړو ما ورسره کار نه درلود.
همغسې د زياد درد پر ځمکه څملېدلې وم او پر ځان تاوېدم چې بانو ځان را ورسه وو، او عماد يې کلک په څپېړه وواهه: بيعقل هلک اخری ځل دی اوسېږی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهې يې.
د زياد درد څخه زما ساه نه ختل، نس مې بيحد درد کوو، بيرته اوس وخت ته راغلم د عماد او على د دوکان مخي ته مې موټر و دروه،د موټر څخه ښکته شوم او د دوکان خوا ته روانه شوم، د پخواني خاطراتو په ياد راوړلو سره سر مې په درد شوی وو، په قهر او غوسه دوکان ته ورننوتلم، په لومړی نظر کې مې سترګي په دوه ښايسته انجونو ولګېدی چې دوکان کې ګرځېدل او خريد يې کاوه.

د هغوي په لېدو بيا مې داغ تازه شو، هغوی زما پشا نه وه چې ګلابې ټېکری د وېری او شرم څخه د حجاب لاندي پټ کړی. هغوی زما پشان بدبخت او خوار نه وه، د علې په غږ نظر مې د هغه دوه انجونو څخه واخيست.
على- سلام متين! ځنګه ديخوا راغلې؟ يوازی راغلې يی؟
او د ميز له شا څخه يې بيرون وکتل چې شايد مژګان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويني! ما هم غوښتل ساشا و وينم پس ولې رانغي؟ ولې مې هغه ګلابې ټېکرى په سر نشو کړى؟ د همغه وخت څخه چې عمماد حويلې ته راننوت بدبختۍ ماته راوړل، هغه دوه انجونو زما خوا ته وکتل او ما د هغوى دوارو شاته په تروش تندى عماد ته وکتل، چې بغير لدى چې ماته وګورى لګيا وو او ټېکرى قات کول!

زما ګلابې ټيکرى هم ده قات کړو او زما په سينه يې کيخود!
شونډې مې وريږدې او غړ مې پورته شو على د مغازى څخه بيرون لاړ شه ...

#نوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلامونه ملګرو په دی امید چې روغ او جوړ اوسیږی،
ملګرو دا ناول کامل لیکل شوی خو ځکه چې متاسفانه
په کتابتون سایټ کې د لس ام بې څخه ډیر کتاب نه
اپلوډ کیږی نو مجبور شوم د نیم څخه لا کم ناول نشر
کړم، که غواړې دا ناول کامل ووایست نو زما د ټلګرام
شخصي چینل ته راشې یا هم زما فسبوک ایډی درسره
فالو کړی او که په یو ځل کامل فایل غواړی نو د غه
ایډی په تلګرام کی سرچ او مسج ورته وکړی ترڅو
کامل ناول درواستول شې.

shuhab09@
دا هم زما د ټلګرام شخصي چینل لینک

https://t.me/pashtoonovels0

او دا هم زما د فسبوک ایډی

https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014&mibextid=ZbWKwL

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته که په ګوګل یا هم فسبوک کې په پښتو باندی ولیکي "خواجه زی صاحب" نو زما مجازی اکانتونه لکه فسبوک، ټلګرام، انسټاګرام به په آساني پیدا کړی شي.



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**